فرمان الهي

پس باید پیکار نمایند کسانی کـه زندگي دنیـا را در بدل آخرت میفروشند و کسي که در راه خداوج» مي جنگد، پس کشته میشود یا پیروز میگردد به وي مزد بزرگ میدهیم. و چیست شما را که پیکار نمیکنید در راه خدا و براي خیر بیچارگان از مردان و زنان و کودکان آنانیکه میگویند : اي پرودگـار مـا برون آر مـا را از این قـریه کـه ستمگار اند اهل آن و مقرر کن براي مـا از نزدیك خود کارسازي و مقرر کن براي ما از نزدیك خود یاري دهنده اي . (النسا-٧٤-٧٥)

شريعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرکزی نشراتی ارگان

اصلي قوت ويشتل دي

حضرت عقبـه بن عامر "رض" وايي : د الله د رسول "ص" تخخه مي په منبر باندي اوريدلي دي چي ويلي يې : " د کافرانو په مقابل کي چي څومره کولاي شي د قـــوت تیاري ونیسي. خبر اوسي : چي اصلي قوت ويشتل دي، خبر اوسي: چي اصـــلي قوت ويشـــتل دي، خبـر اوسي: چي اصلي قوت ويشتل دي ."

(دغه حدیث امام مسلم روایت کړي. مشکوة)

دوهم کال دوه ويشتمه گڼه پرله پسي (٧٢) | چهار شنبه د ١٣٧٦ هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتي (١٤) | د ١٩٩٧ میلادي کال جون (٤) | د ١٤١٧ هـ ق کال د محرم الحرام (٢٧)

تذکر .خطر ایمان است اگـــر به این کلمات مقدس بي حرمتي کنید .

د پلخمري په ښارکي د يوى پراخي غونډي په ترڅ کي د هفـه ځاي مجاهدو خلکو له عـالیقدر امیر المؤمنین سره د بیعت مـراسم تـر سـره کـړل

د باختر اطلاعاتي اژانس خبريال خبر راکړ په هفـه پراخـه غـونډه کي چي د پلخـمري په ښارکي جوړه شوي وه محترم مولوي عبدالصبير او د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي د افغانستان د اسلامي دولت د پروگرامونو په باره کي خبـري وکـړي او په هیواد کي بې د محمدي غرا شریعت د نافذولو په لاره کي ددغـه ولایت د مجاهدو خلکو ونډه اخیستل او تاریخي رسالت مشخص کړ. خبر زیاتوي دي غـونډه کي د فـقـیر مـحمد درویش لخوا انقلاب ترانې هم واورول شوي . په پاي کي د غونډي برخه والو له عـالیقدر امیر المؤمنین سره د بیعت مـراسم ترسـره کـړل او تیـاري یې څرگند کړ چي د ملحدو ملیشو او د شر او فساد د وروستي فرد تر ئابودي پوري به جهاد ته دوام ورکوي او په سر او مال سره به د خپل اسلامي دولت تنگه او ملاتړ کوي .

د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر محترم ملا امیر خان "متقي" له بي بي سي سره په مرکه کي:

د اســــلامي دولت مخـالفین کـه واقعاً مـذاکـرات وغـــواړي او اســـلامي نظـام تـه غـاړه کـیږدي مـونږ هم مذاکراتو تـه حاضر یو

له پل خمري نه نیولي تر گرداب پوري د سیمي زرگونه مجاهدین زمونږ سره ملگري دي

پرون د جنبش استازي د افغانستان د نجات د ملي اسلامي جبهي په نامه د يوي نوي شورا د جوړیدو خبره وکړه مونږ د دي جبهي په هکله د طالبانو د اسلامي غورځنگ د دریځ په اړوند په پلخـمري کي د طالبانو د اداري د اطلاعـاتو او کلتـور وزیر ښاغلي امیر خان «متقي» څخه وپوښتل.رو محترم متقي یې په ځواب کي داسي وویل دا تاسي ته معلومه ده چي اسلامي دولت په ساحو کي د خلکو هر څه محفوظ دي نو دا د نجـات جبـهـه نده او دوي نه غـواړي چي د افغانسـتان مشکل حل شي دوي همیشه په جنگ اصرار کړي، دوي د افغانستان مشکل حل کولي نه شي اوس دوي ځکه وارخطا دي چي مونږ په شمال کي په پلخمري کي قوي مرکز نیولي دي او دا د دي سیمي د زړه حیثیت لري نو دوي د خپلي وارخطایي له کبله سره یو ځايخلوروم مخ

د سیاه خاك د ولسوالي پراخه برخه د مفسدينو له شره پاکه شوه

د لوي خداي «ج» په نصرت او د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو د ځواکونو په میړانه د وردگ میدان ولایت د سیاه خاك ولسوالي يوه پراخه برخه فتحه اود افغانستان د اسلامي دولت تر واکمني لاندي راغله . د وسله وال پوځ یو خبر ځاي د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل: د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو د ځواکونو د پراخو عملیاتو له امله د وردگ میدان ولایت د سیاه خاك په ولسوالي کي د خربلند ، سفید کوه او د سبزك سیمي د خلیلي د ملیشو له واکمني نه وویستل شوي او د اسلامي اردو د مجاهدینو تر کنترول لاندي راغلي .

دغه راز ددغو بریالیو عملیاتو په نتیجه کي قومندان غلام سخي له خپلو دیارلسو تنو افرادو سره نیولي شوي او په لس گونو تنه نور یې وژل شویدي چي د وژل شویو کسانو مړي د جگړي په ډگر کي پاتي دي او د دښمن دولس موټره مهمات له يوي دافع هوا او د بي ام څلوریشت له يوي دستگاه سره د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا ولجه شویدي .

د افغانستان د اسلامي دولت د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه

د ١٣٧٦ کال د جوزا د میاشتي دولسمه نیټه – کابل

بسم الله الرحمن الرحیم

لکه ځنگه چي د افغانستان او د ایران مسلمانو خلکو او نړیوالو ته په ښه توگه روښانه ده د طالبانو داسلامي تحریك په مشري د افغانستان د اسلامي دولت له جوړیدو وروسته نوي اسلامي نظام ژوره هیله درلوده چي د دواړو هیوادونو د خلکو تر منځ د دینيخلوروم مخ

مونږ د عالیقدر امیر المؤمنین د هدایت په اساس کابل ته راغلي یو

طوریکه خوانندگان محترم هفته نامه شریعت اطلاع دارند در این اواخر به منظور محو کامل بقایاي کمونیزم و مزدوران اجانب در کشـور هزاران تن از طلباي کرام و مردم مجاهد اکثر ولایات کشور به شهر کابل آمده و از اینجا بصوب خطوط مقدم جبهه اعزام مي گـــردند، غـــرض اطلاع هر چه بیشترخوانندگان عزیز از جریان این تحرکات جهادي با تني چند از این مجاهدین مصاحبه هاي کوتاهي انجام داده ایم که اینك خدمت تان تقدیم میگردد :

محترمه وروره لطفاً خپل ځان ص(٤)

په سمنگان کي په ملحدو ملیه ستکه او درنه وسله د اسلامي اردو د مجاهدینو لاس تـه ورغـله

له سمنگانو نه د باختر د اطلاعاتي اژانس د خبريال د خبر له مخي په تر لاسه شویو سلوکي پنگـه سـره کـلاشنیکوفونه، غلویښت اربي جي توغندي، غلویښت میله پیکا، دوه دافع هوا، د بي ام یو یوه دستگاه، د سکر د توغولو یوه دستگاه، یو سلو غلویښت لویي مخابري او غلویښت کوچني مخابري شاملي دي .

دغه راز د ملیشو یو سرگروپ ثمر بیگ، د محترم مولوي محمد اسلام په لاس د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل هر اړخیزه همکاري اعلان کړه .

د کاپیسا ولایت پراخـــي سیمي د مزدورو باغـــیانو له شتـــوالي نه پــاکي شوي

په الهي نصرت سره د بریالیو عملیاتو په نتیجه کي د کاپیسا ولایت پراخي سیمي د شر او فساد د عناصرو له شتوالي نه پاکي شوي د باختر اطلاعاتي آژانس د پوځي خبرنگارانو له خولي خبر راکړ : د هغو محاربوي عملیاتو په ترڅ کي چي تن سهار د امنیتي پوځونو لخوا د کاپیسا ولایت په مربوطاتو کي وشول په الهي نصرت سره دده بالا ، ده بازار او جمال آغي پراخي سیمي د دښمن له شتوالي نه پاکي شوي او شر اچوونکو ته د سر دراندي زیانونه او زیات مالي تاوانونه و اوښتل یو شمیر یې وژل شول او یو شمیر نوریې د اسلامي اردو د مجاهدینو لخواخلوروم مخ

د اسلامي اردو مجاهدینو د شیخ علي ، لولنج، سرخ پارســا او د شیبر په استقامتونو کي د خلیلي موړال بایللي ملیشي له سختي ماتي سره مخامخ کړي

د باختر د اطلاعاتي اژانس د خبريال د خبر له مخي د خلیلي ملیشــو دري ورځي مـخکي د اســلامي اردو د مـجـاهدینو په سنگرونو باندي په یو ناکام تعرض لاس پوري کــــړ چي د زړورو مجاهدینو په مقاومت سره ددښمن برغل په شا وتمبول شو او ملیشي تیښتي ته اړ کړاي شوي .

پدي تعرض کي دښمن ته د سر درانده زیانونه او زیات مـــالي تاوانونه اوښتي دي او د دښمن یو زیات شمیر مړي د جگړي په ډگرونو کي پاتي دي .

دغه راز تیره شپه د مجاهدینو دیو کمین په ترڅ کي د خلیلي دري تنه افراد اسیران او یو شمیر نور یې وژل شوي او ټپیان شویدي .

د عالیقدر امیر المؤمنین د راديوي مصاحبي متن

پوښتنه : عالیقدر امیر المؤمنین! ځرنگه چي په شمال کي جنگونه او نظامي شخړه رامنځ تـه شوي ده ، ډیر خلك غـواړي چي اوس جـهـاد تـه ولاړ شي د مغـوي جـذبات راپاریدلي دي ستاسو نظر پدي اړه څه دي ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم . مونږ خو په هیڅ وخت کي د مجاهدینو ممانعت ندي کړي ځکه چي مغوي مجاهدین دي او که مجاهدین نه وي او یوازي دلته په صف کي ځان ځايوي او صف فاسدوي یا د شخصي اغراضو لپاره موقع پیدا کوي مغه کار خو بیا بې نتیجې گرځي او کـه مسلمانان خلك وي چي جهاد یې غرض وي او د فساقو او فجارو د غلبي حـخـه متاثر وي او مغوي یې خوښ نه وي ، نو پدي باب مونږ هیڅ چا ممانعت نه کوو. هر څوك چي جهاد ته ځي، د خداي د کلیمي د پورته کیدلو لپاره ځي نو ځان دي آماده کړي او کـه څوك موټر یا بل څه ورکـولي شي مغـه دي آماده کړي . ځوانان با تجربه او برجسـته خلك چي واقعاً د جهاد خلك دي ځانونه دي چمتو کړي دوي ته معلومه ده چي فـساق، فجار، دوستمیان او کـمونستان چي د روسانو څخه وروستـه پدي ملك کي ددوي دوره راغلي ده او د روسانو په نسبت دوي اغلظ وو یعني روسانو دومره بدنامي او چور او چپاول ندي کړي لکه دوي چي کړي دي د دوي ضرر عـام ؤ ، هر چاته مـعلومـه ده چي پدي ملك کي دا دواړه دوري راغلي دي او پر خـلکو باندي تحمیل شویدي .

نو کـه چیري جـهاد ددغه غـرض لپاره وي نو دا به کـامیابه هم وي او مونږ او ټول مسلمانان به تري فایده واخلو . او که په صف کي د شخصي اغراضو لپاره فاسد خلك ځاي ونیسي نو ټول صف به فاسد کړي مونږ به هیڅکله داسي فاسدو اشخاصو ته په خپل صف کي ځاي ورنکړو. او یو خو ددي خلکو بدبختي دا ده چي د کمونستانو، دوستمیانو او ټوپکیانو لخوا هر څـه ورسره شوي دي، هر څـه تکلیفونه او بي آبي یې ورته رسولي او حتي ناموس یې هم په خپل واك کي نه ؤ، هر څه چي مغوي ورسره کړي دي خلکو مغه هیر کړي دي . او د طالب له خوا نه یې چي معمولي تکلیف لیدلي وي هغه یې په یاد دي، د مغـه په سبب د ټول صف، ټول تحریك، ټولو علماؤ او د ټولو طلباو څخـه بد وړي .بله دا چي د ملك او مسلمانانو سرمایه چي طلباء او علماً دي او مغوي په شهادت رسیږي او دوي ورته گوري نو که واقعاً مسلمان دي دا چي ملا دي که امي دي مونږ یې ممانعت نه کوو او کـه څوك فاسدوي کـه مغـه طالب وي ، کـه ملا وي او کـه امي سړي وي مونږ یې له تحریك نه ممانعت کوو . که فاسد سړي وایي چي زه به دلته ځان ځاي کړم او بیا خپل شخصي اغراض تر سره کوم نو مغوي به پنځه ورځوکي رسوا کیږي دا داسي تحریك ندي دا تحریك د اسلام پر بنیاد شروع شوي دي . مونږ چي دومره تکلیفونه وزغمل، طالبان مو زخمیان شول شهیدان شول دا دي لپاره چي صف مو فاسد نشي او سبایي نتیجه خرابه نشي او فاسده نشي . دا چي د دومره پاکو مسلمانانو، طالبانو ، حافظانو، علماؤ وینې توېي شوي نو که دا بیځایه شي نو الله "ج" به پردي ملك قهر نازل کړي .

مسلمانان بنگله دیشي از حکومت متبوع خویش خواستند تا دولت اســلامي افغـــانستان را به رسمیت بشناسد

آژانس اطلاعاتي باختر از قول آژانس خبري دي . بي . اي جرمني خبر داد : هزاران تن از مردم مسلمان بنگله دیش طي گردهمایي وسیعي در مسجد جامع بیت المکرمه شهر داکه مرکز بنگله دیش بعد از اداي نماز جمعه حمایت و پشتیباني همه جانبه شانرا از اهداف و برنامـه هاي دولت اســلامي ص(٤)

شارژدافیر افغانستان در شهر تاشکند همبستگي خود را با دولت اسلامي افغانستان اعلام نمود

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد : محترم الحاج سید غلام الدین اثیر شارژدافیر سفـارت دولت اسـلامي افغـانسـتان مقیم شهر تاشکـنـد طي یادداشتي پیروزي هاي اخیر دولت اسـلامي افغانستان را انکـــشاف مثبت و در خور تمجید به نفع ملت و کـشـور، تلـــقي نمـوده وفـــاداري و پشـتیـــباني خویش را از دولت اسـلامي افغانستان ابراز داشت است .

علماي محترم اهل تشیع در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه "شریعت"

بغاوت در برابر دولت اسلامي افغانستان ، ناجایز ، محکوم و مردود است

آیت الله تقدسي نماینده اهل تشیع افغانستان

الحمدلله در سایه دولت اسلامي افغانستان تعصبات قومي، نژادي، مذهبي و لساني وجود ندارد

محمد نواب «حیدري» یك تن از علماي جید اهل تشیع

جهت آگاهي خوانندگان گرامي هفته نامه شریعت از مواقف و نظریات علماي اهل تشیع در مورد مداخلات بیشرمانه ایران در امور کشور ما ، و لجاجت باغیان حزب وحدت شاخه خلیلي در مقابل دولت اسلامي افغانستان، مصاحبه اي با دوتن از علماي جید اهل تشیع، کشور هر یك آقـاي آیت الله تقـدسي، نمـاینده اهل تشـیع افغانستان و آقاي الحاج محمد نواب حیدري یکتن دیگر از بزرگان اهل تشیع انجام داده ایم که ص(٤)

د کـــابل په ښار کي د دووه مساجدو د بنسټ ډبــري کیــښودل شــوي

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغو پیلابیلو مراسموکي چي له همدي امله پر ځاي شوي وو یو شمیر دولتي اراکینو د کابل ښار ملا امامانو، عـالمانو او ښاریانو گډون کړي و .

په دغو مراسمو کي ویناوالو د اسلام د سپیڅلي دینخلوروم مخ

مسجد جامع پولي تخنیك کابل مجدداً فعال و مورد استفاده نمـــاز گذاران قرار گرفت

آژانس اطلاعـاتي باختـر گزارش میدهد مسجد مذکور که به اثر جنگ هاي تنظیـمي رژیم ملحدین و مؤتلفین تخریب و اثاثیـه آن توسط این تفنگ داران به یغما برده شده بود به اثر سعي و تلاش اسـتادان و منسـوبین انسـتیتـوت پولیـتخنیك کـابل مجدداً فعال گردید .

مسجد مذکور گنجایش بیش از پنجصد نماز گذار را در یك وقت دارا میباشد .

د سره صلیب نړیواله کمیټه د افغانستان د کرنـي د بیارغاوني په ډگر کي د پام وړ کارونه سرته رسوي

په کابل کي د سره صلیب مطبوعاتي دفتر

د سره صلیب نړیواله کمیټه د افغانستان د کرني د بیارغاوني په ډگر کي د پام وړ کارونه سرته رسوي. ددي کمیټي د کرني ډله د هیواد په کلیو او بانډو کي د اوبو لگولو د سیستم د بیارغاوني سره د کانالونو، ویالو، کاریزونو او ځاگانو په پاکولو، کرنیزو اصلاح شویو تخمونو په ویش ، د میوه لرونکو او ځنگلي ونو د بزغلیو او د سابو د تخمونو د ویش له لاري له بیوزلو بزگرانو سره مرسته کوي .

د اي . سي آر سي د کرني ددغه ډلي په لارښوونه اړوند کسبه کاران له زړو او سپتو او کاریدلو پوځي تجهیزاتو څخه د کرني د کار وسایل جوړ او بیا په وړیا توگه په بیوزلو بزگرو کورنیو باندي ویشل کیږي .

په دي وروستیو وختونو کي د اي سي ار سي د کرني ټیم د شاتو د مچیو د روزني پروژه ددي لاندي اهدافو د لاسته راوړني لپاره تر لاس لاندي نیولي ده :

د اړو کسانو لپاره د دندي موندل، د شاتو مچیو روزني ته په هیواد کي وُده ورکـــول، د شاتو د تولـــید زیاتول، د شـــاتو د مچیو پېږخلوروم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ملــیشه هــاي باغـي و بقــایـاي پرچمي در یــك ائتلاف جــدیــد

ملت مجاهد افغان در این دو دهه خونین اخیر شاهد بسیاري از ائتلاف ها ، اتحاد ها و همبستگي هاي سیاسي و نظامي بوده اند کي یکي از آن بتلو بست ها به حل مشکل کـشـور مـا قـادر نگردیده بلکه هریك سبب ازدیاد فاصله ها، خونریزي ها و دربدري هاي بي حد و حصر در کشور ما گردیده است ، زیرا ائتلاف هاي موجود روي واقعیت ها و ایجاب شرایط عیني و تاریخي کشور به میان نیامده بلکه به اساس فشار هاي مقطعي داخلي و اشاره هاي خارجي رنگ گرفته و بر محور منافع شوم اجانب چرخیده است . و از طرف دیگر عناصر ترکیبي این ائتلاف ها که داراي گذشته هاي دشمني خونین میباشند نامتجانس بوده و داراي وجوهات اشتراکي که باعث بقاي این ائتلاف ها گردد، نمي باشد که قادر به حفظ این نوع ائتلاف ها براي مدت مدیدي گردد چون وجود این ائتلاف ها روي فشار هاي آني و مقطعي زماني به میان آمده که با رفع فشار هاي موجود این ائتلاف ها مؤثریت خود را از دست داده و از هم متلاشي میگردد که تاریخ سیاه ائتلاف ها در این دو دهه در کشور ما که هر یك به نوبه، خود از پیش کرده بیش حادثه و فاجعه آفریده اند شاهد خوب مدعاي ما میباشد .

روي واقعیت هاي متذکره دولت اسلامي و تحریك طالبان به موثریت همچو ائتلاف ها اعتراف نداشته و قانع نمي باشند و همچون ائتلاف ها را توطیه بي علیه حاکمیت دیني و ملي و توطیه بي علیه تمامیت ارضي و استقلال کشور خود دانسته و راه واحد بیرون شد از مشکل فعلي کشور را در وجود یك ص(٢)

زمونږ اسلامي وسله وال مجاهد ځواکونه د افغانستان د اسلامي او ملي حاکمیت، استقلال او ځمکني بشپړتیا د ساتني لپاره پوره چمتو والي لري

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (١٠٠٠) افغانی
په پاکستان کی (٢) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه /سرك١١ / کور (٥٢٠)
تیلفون : ٢٢٣٨١ - توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی / تیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧

بقیه سرمقاله

حکومت واحد مرکزي تحت قیادت و زعامت شرعي آن میداند و بس .

ملیشه هاي باغي و اندیوالان پرچمي شان که مقدرات به اساس حکمت بالغه خداوندي از اضمحلال کلي نجات شان داد و یك بار دیگر چانس بقا براي روز هاي محدود و محصور بدست آوردند، باداران روسي و ایراني شان در سدد شدند که فعالیت هاي این مزدوران خود را که در اثر تحولات اخیر مزار از هم متلاشي شده بود در ترکیب و تشکل یك ائتلاف جدید انسجام بخشیده رنګ جدید و تازه به آن بدهند زیرا ائتلاف ګذشته (شوراي دفاع از افغانستان!!!) با قرار ګرفتن مالك خان در جهت مخالف با دوستم به کلي مضمحل ګردیده و از بین رفته بود . این جبهه جدید به اصطلاح «جبهه نجات افغانستان!!» میباشد که جدیداً روسها و ایراني ها به دهن کثیف پرچمي معلوم الحال (فوزي) اعلان داشتند .

ائتلاف جدید که بر محور پرچمي ها میچرخد عناصر ترکیبي خود را حزب اسلامي حکمتیار، شوراي نظار، حزب وحدت، حرکت اسلامي و محاذ ملي معرفي داشت . ائتلاف جدید که در بحراني ترین شرایط به حیث یك تلاش مذبوحانه از طرف روسها و ایراني ها به میان آورده شده است چانس بقاي آن به کلي دیده نشده و این مولود حرامزاده روسي و ایراني انشاء الله سر از ګهواره بیرون نکرده و به پاي خود ایستاد نخواهد شد زیرا از یکطرف زیر حملات شدید و کاري اردوي اسلامي که همین اکنون با آماده ګي رزمي بزرګ در قلب دشمن (سمت شمال) قرار دارد مواجه میباشد و از طرف دیګر تحول اخیر مزار توانایي نظامي و اعتماد ذات البیني ملیشه ها را به کلي از بین برده و با از میان بیرون شدن دوستم ، ازبکستان که بزرګترین حامي و معاون ملیشه ها در افغانستان پنداشته میشد علاقه مندي سابق خود را از دست داده زمام دار ازبکستان نارضایتي خود را از وضع موجود ملیشه ها اظهار داشته حتي آنها را به رشوت و ګلودي صفوف شان متهم نمود . و از جانب دیګر حزب اسلامي که متحد قابل حساب ملیشه ها و ائتلاف جدید پنداشته میشود عملاً موثریت و حتي موجودیت خود را در داخل از دست داده و زعامت آن همین اکنون در ایران فراري میباشد و در سمت شمال کشور مجاهدین آن حزب همه در کنار دولت اسلامي قرار ګرفته در بغلان و سایر حصص کشور علیه ملحدین پرچمي و ملیشه هاي باغي و مزدور در کنار دولت اسلامي مصروف جهاد میباشند . دامنه، فعالیت هاي متحد دیګر این ائتلاف(شوراي نظار)که متحد اصلي این ائتلاف ضد اسلامي و ملي پنداشته میشود به پنجشیر و اطراف آن محدود ګشته و در محاصره خورد کننده اردوي اسلامي قرار دارد .

از آنچه ګفته آمدیم معلوم میګردد که این جبهه روسي و ایراني (جبهه نجات افغانستان !!) هیچ نوع موجودیت و تشکل عملي و موثر را به خود نګرفته انشاء الله از وضع آن کرده رفع آن به دست اردوي اسلامي مقدم خواهد بود و این آخرین تلاش هاي محکوم به فناي روسها و ایراني ها در افغانستان براي حفظ و بقاي اجنت هاي مزدور شان خواهد بود . انشاء الله .

زه د پلیګون غاټول یم

خوشحال نسل

هوا زه د ربښتیني لار اتل یم ، زه د خداي «ج» پر ځمکه د الهي قانون د ټینګښت په هیله قرباني شوي یم، زما هیله سپېڅلي وه، ما ستاسي د نیکمرغی او هوساینې لاره لټوله. زه د خپل پلرني ټاټوبي د خپلواکۍ دلاري شهید یم ، زه د خپل ګران وطن د ملي نواميسو او استقلال په مینه ځار شوي یم .

هوا هغه وخت چي تر وینې د ځمکي پر مخ خپل تور وزرونه غوړولي وو، هري خواته چوپه چوپتیا وه ، هر ځوك په درانه خوب ویده وومزموږ د کور دروازه وټکیده، کتل مي چي ظالمو خادستانو زما بوډا پلار په ډېره بې رحمي وواهه، زه بې پتي سترګي او لاس ترلي له کوره وویستم، نه پوهیدم چي چیرې به مي وړي او څه به راته وایي ؟!

ما د خپل سپین ږیري او بوډا پلار، سپین سري او زړه سواندي مور، نازولي او ګلالي زوي، کوچني لور او د ژوند د ملګرې ژړاګاني او چیغي په غوږو آوریدي چي د توري شپې د تیارو زړه یې چاوه ...

زما سپین سري مور به هغوي ته ویل:

زما زوي چیرې وړئ؟ ... زما د زړه ټوټه، زما د سترګو تور ... چیرې وړئ؟ آخر دده ګناه څه ده؟.. زما همدا یو زوي دي ! ولي یې را څخه وړئ !...

زه د هماغي ترخي شپې راهیسې د تل لپاره له خپلي کورني څخه جلا شوم او هغوي مي د ژړا په غیږ کې په ترمو اوبنکو لمبیدلي پریښودل ، خو زه د ترخي پله د جهنمي زندان د تورو تیارو میلمه شوم، ظالمو خادستانو او د پردیو تالي څټو پر ما ډېري تاډودې وکړې، سترګې یې راته په برچو او نوکانو یې را ته په اتبوروتو وویستل ... ما د خپل ژوند ټولې خوښۍ هیرې کړې ، پر ما د ژوند هره شیبه د کال څخه اوږده او د زهرو د ګوټ څخه ترخه تیریده ، تل به مي سپین سري مور او ګلالي زوي سترګو ته دریدل، اوویل به مي چي خدایه پر هغوي به دا شیبي څنګه تیریږي؟... په زړونو به یې څه ګرځي؟ ... ، هو ! ددغه ځوریدلي ملت ډېر پر اسلام مین تنګیالي ددغه مقدس هدف په لیار کې قرباني شول، تاریخ به هیڅکله د هغوي کارنامې هیرې نکړي او په زړینو کړېنو به یې راتلونکي نسل ته والي کړي.

هغوي د خپلو پاکو وینو په نذرانه کولو سره د اسلامي انقلاب بهیر ته بنکلا ویخښله د هغوي پوازیني ارمان د اسلام د سپیڅلي نظام ټینګښت ؤ ، هغوي غوښتل چي تاسي ددغه سپیڅلي نظام تر سیوري لاندي هوسا او نیکمرغه ژوند وکړئ او پر دي ځمکه سر لوړي اوسئ .

هوا دا چي نن د پولي ګون د سپېرو خاورو په تل کي پرته ده ، دا زما هغه کوپړۍ ده چي د یو سپیڅلي او ښکلي لوړ، لوړ اینګارونه او خیالونه یې زیږولي دي او دا شینلي خواره واره چي پراته دي دا زما د تن هډوکي دي چي غوښې یې د ښین سترګو د شوبلو تر زنځیرونو لاندي او سپیږو میخونو تراشلي .

دا هغه سپیڅلي ځاي دي چي زه دلته د روسي وحشیانو د بیلدوزرونو په وسیله ژوندي په خاورو ښخ شوم ، ما په همدغه سپېره دښته کې د خپل پروردګار سره خپله وروستې ژمنه پوره کړه او خپل نازولي زوي مي د تل لپاره د پلار له سیني څخه بې برخي کړ .....

زما ګلالي بچي به اوس دخپل پلار د خوږي غیږي خوبونه هیر کړي وي او په کومو کوڅوکې به بې درده خلکوته د سوال لاسونه غځوي آه! خدایه! هغه به زما د تصویر کوم رنګ په اوښلو سترګوکي ساتلي وي ؟... زما سپین سري او د وخت تاډودو ځپلي مور به اوس هم زما د راتلو لاري څاري او وایي به چي زویه !! خداي«ج» دي راوله ...

زما د ژوند ملګرې به په کومو کوڅو، کومو سرکونو اولاروکي، د یوه کپ دوډي لپاره او خپلو وږو بچو د مړولو لپاره دچا چا وروته ټکوي؟...

زما یتیم زوي به ډېري شپې او ورځي نهري تیري کړي وي ...

زما یتیم بچی به د ژمي په ساړه موسم کې لوڅ لغړ پاتي وي، پښې ابلي به وي، تنکي وجود به یې ریږدي او د خپلي کوندي مور په زوړ پوړني کي به ځان را، نغاړي، تل به یې د بې کسی او نهیلی اوښکي پر سپېرو اننګو د شلیدلي ګریوان ترانګي لمسوي او تل به د خپل وران او ویجاړ هیواد د خړو کنډوالو تر څنګ هغه سره کربلا ور په یادیږي چي ظالمو او وطن پلوړنکو خادستانو دي د پلار له غیږي واخیست،او په خاورو کې وغورځاوه، پلار یې ور څخه د تل لپاره جلا کړ ... او دي یې یتیم کړ.....

په ډیرو اخترونو کي به یې په ژړا ژړا زړه تش کړي وي، ځکه چي زما د سترګو تور، زما د ځګر ټوټه او زما ګلالي بچي خو پرته له خدایه«ج» بل څوك نه لرل، د درمل وسه یې هم نه درلوده، ناروغتیاو به ځومره زوروللي وي!!! !...

هوانور ماشومان خو د اخترونو په ورځ له خپلو پلرونو سره میلو ته ځي د صاحبانو زامن خو کاسکیټ او رنګ رنګ جامي اغوندي، لوبي کوي، خوشحالي کوي ... خو زما یتیم بچي به په هغه ورځ د کمپونو تر څنګ په پردیو دیرانونو خزلي ټولي کړي وي ... زما د یتیم زوي پر سر به څوك د مهرباني لاس را کاږي ! او څوك به ورته په مینه ووایي: زویه !! د ژوند اله ستونزو به زما کمکي زوي څومره زورولي وي !...زما کوچنی لور به د پلار محبت څخه په سترګو کي لټوي؟ او د خپلي بې وسي کونډي مور څخه به یې تل پوښتلي وي چي : مورجاني! زما پلار جان چیرته دي !... زما پلار جان کله راځي ! ... زما پلار جان به ماته څه راوړي !... هغه ولي موږ هیر کړي یو !...

نو اي د وخت واکدارانو !
اي پراسلام مینو ځوانانو!

موږ خو ستاسي د خوښی لپاره خپل ځانونه قربان کړل، ...نو مه پریږدئ! چي زموږ هیلي له خاورو سره خاوري شي ...

هغوي چي په برچو زموږ سترګي ا و په اتبورونو زموږ نوکان یستلي، موږیې د روسي بیلدوزرونو لاندي ژوندي ښخ کړي یو ، تاسي یې بې پلاره یې وروره او بې زویه کړي یاست ... هغوي ته د دوستی لاسونه مه غځوي!هغوی په خپله غیږه کي مه نیسئ، که تاسي دا کار وکړي او د نورو په څیر زموږ ارمانونه د تجارت وسیله وګرځوئ نو، زموږ د وینو غچ به څوك اخلي ؟

دا ملت تاسي ته سترګي په لاردي، زما د یتیم زوي د هیلوډکي سترګي ستاسي لاري څاري... ستاسي لاري !!!

هو، زه باور لرم چي تاسي به ما نه هیروئ! واورئ! چي زما کوپړۍ زما د تن شینلي او خواره واره هډوکي درته څه وایي ؟ درته څه پیغام لري! د زړه په غوږو یې ښه واورئ درته وایي چي : ما مه هیروئ!، راشئ زما سپیڅلي آرمانونه پوره کړئ! ،

دي زوریدلي ملت ته د هوسا ژوند زیري ورکړئ!، زما کونډه او زما نازولي مه هیرو ئ!، د خپلو بچو په څیر زما د ګلالي بچي پر سرهم د مهرباني لاس را کاږه، له هغه سره مینه وکړه، هغه به د وحشت بې رحمو څېرو ډېر پر مخ و هلی وي، د هغه د مخ پر نازك پو ټکي به د سره شمال د څپېړو نبي لا تر اوسه پاتي وي نو به د شهیدانو د آرمانونو د کاروان سالاره! زما یتیم مه هیروه! هغه په خپله غیږه کي ونیسه ، اوښکي یې ور پاکي کړه او په مینه ورته ووایه:زویه !

د نړۍ د ګوټ ګوټ نه

د کمپیوتر په تکنالوژي کي زیات پرمختګونه شویدي

کمپیوترونه د انسانانو ماشیني مرستیان دي او انسانان د هغوي په وسیله یو لړ پیچلي او مشکل کارونه سرته رسوي تر اوسه دغو ماشیني مرستیانو ته دامر کولو یوه طریقه دا ده چي ګله انسان هغوي ته د کوم کار امر وکړي نو باید چي هغه ولیکي یابې ټیپ کړي او د کمپیوتر حافظې ته یې وسپاري .

د برطانی د یو پوهنتون یوې ډلي ساینس پوهانو یوه نوي طرحه جوړه کړیده چي د هغي په وسیله به کمپیوتر دانسان د خبرو او حتي د شوندو په حرکت باندي هم پوهیږي .

انسانانو ته د جراحي عملیاتو په وخت کي وینې ته اړتیاوې

خو د یو انسان نه بل انسان ته په وینو ورکولو کي ستونزه دا ده چي که د وینې ګروپ سمون ونلري یو بل ته وینه نشي ورکولي اوس امریکایي ساینس پوهانو ددي ستونزې د حلولو لپاره دا هڅه کړې تر څو دا ستونزه لیري کړي دغو ساینس پوهانو وکولی شول چي دوینې سره کرویات دیوډول مایع پلاستیك په ذریعه ویوښي

اوس د لابراتوارونو په هغو تجربو کي چي په موږ کانو باندي سرته رسیدلي چي د وینې سره کرویات په مایع پلاستیك باندي ویوښي مثبته نتیجه ورکړیده

داسي ښکاري چي په موږ کانو کي دا پوښل شوي سره کرویات نورمال ښکاري او په نورمال ډول سره خپله وظیفه تر سره کوي .

که چیري په انسانانو کي هم دا تجربه تر سره شي دا کار به د نړې په هغو هیوادوکی چي هلته د وینو په بانکونو کي وینه کمه ده یو ښه زیري وي همدا ډول هیله ده چي د وینې ځینی خطرناکه ناروغیو لکه (تلاسیما) علاج لپاره هم لاره هواره کړي

سریعترین آشپز خانه جهان

در یکي از پوهنتونهاي المان فدرال آشپزخانه با سرعت عمل خاص ساخته شده است این آشپز خانه در ظرف یك دقیقه میتواند ٢٢ نوع غذا را توسط آلات الکترونیکي تهیه نماید این آشپزخانه توسط یك سویچ الکترونیکي فعال ګردیده و یك مرتبه ٣ نوع غذا را عرضه میدارد و در حدود ١،٥ میلیون مارك به خاطر ساختن این آشپز خانه مصرف ګردیده است و به صفت بزرګترین آشپزخانه در قاره اروپا میباشد آشپز خانه مذکور براي ٢٥ هزار محصل غذا را تهیه کرده میتواند و سهولت زیاد در تهیه غذا به وجود آمده است .

آسمان خراش ها و آلوده ګي هوا

تنها وسایل نقلیه و کارخانه جات مسؤول آلوده ګي و خرابي هوا در شهر هاي بزرګ نیستند بلکه ساختمانهاي بلند که روز به روز به تعداد شان افزوده میشود عامل موثري در آلوده ګي هوا شناخته شده اند یعني این ساختمانها مانع جریان هواي تازه از مناطق کوهستاني یا جنګلي میشوند .

نتایج مذکور از یك نمودار پژوهشي بدست آمده است که در منطقه رین ماین المان فدرال و در حوالي فرانکفورت بر پا شده است .

هرکال په نړۍ کې درې میلیونه انسانان د تنباکو له امله مړه کیږي

ګمان کیږي چي په راتلونکو څو لسیزوکي به دا خطر لا نور هم زیات او پراخ شي، د روغتیا نړیوال سازمان وایي چي په راتلونکي کي به د تنباکو زیاتره قربانیان په ښځو کي وي هر کال په نړې کي د نیم میلیون څخه زیاتي ښځې د تنباکو د استعمال له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي او تخمین شوي چي پنځه ویشتو راتلونکو کلوکي به ددغه مړینې شمیره دوه برابره زیاته شي .

په پر مختللو هیوادوکي پنځه ویشت فیصده سګرت څکونکي ښځې دي، په سویډن کي د نارینه و په پرتله سګرت څکونکې ښځې ډېري دي . په غربیو هیوادوکي ددغو کسانو شمیره په ګرلدي دول زیاتیږي، په پر مختللو هیوادو کي د ځوانانو په پرتله ځواني نجونې د سګرت څکولو ته زیات میلان لري متباکو تقریباً د پنځه ویشت ډوله ناروغیو لپاره زمینه برابروي هغه ګمان چي ټول عمر سګرت څکوي د هغوي عمر په متوسط ډول دوه ویشت کاله کمیږي . سګرت څکول ښځوته د نارینه ونه زیات خطرونه متوجه کوي لکه د غاړي سرطان، د وخت نه مخکې شنډیدل او د اولاد د راوړلو توان ته زیان رسیدل او که چیرته مېندې د حاملګي په وخت کي سګرت وڅکوي د زیږیدونکي ماشوم د وزن د کمیدلو، د اولاد د زیان کولو او دمړماشوم د زیږیدلو خطرونه زیاتیږي او بالاخره ځیرونکو ښودلي چي د سګریټ د څکولو له امله د سږو د سرطان خطر د نارینه و په پرتله د ښځو لپاره زیات دي .

XXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXXX

د شریعت تبصره

شیعه ایزم ایراني در خدمت کمونیزم

حکام ایراني از آغاز سقوط نظام شاهي در ایران و پیروزي انقلاب در اصل شیعه ئي و به زعم آنها نه شرقي و نه غربي شان، بنا بر داشتن وجه مشترك ضد امریکایي با کمونیزم، مورد تفقد و حمایت سردمداران کمونیزم جهانخوار واقع شدند. از یك طرف دول کمونیست مشرب اسلامي چون سوریه ، لیبیا ، یمن جنوبي و سازمان آزادیبخش فلسطین بنا دوستي را با ایران نهادند از جانب دیګر شوروي آن زمانکه سردمدار کمونیزم جهاني بود، نیز در مجامع بین المللي ، به منظور کسب حمایت ایران و دریافت توان مقابله در جنګ سرد مقابل امریکا، از پالیسي ها و استراتیژي ایران پشتیباني شایاني نمود . ایران بنا بر تعصب شدید مذهبي شان در مقابل پیروان مذاهب دیګر اسلامي ، همواره کوشش نمودند تا پیروان مذهب شیعه را منسجم و به خیال آنها در راه جهاني ساختن انقلاب شان،از ایشان بهره برداري نمایند.رهبران انقلاب شیعه ئي،در ظاهر شعار هاي جمهوري اسلامي را بلند کرده تا عامه، مسلمانان جهان رامشتاقانه در انتظار چنین نظریه و نظامي در جهان اسلام بودند،فریب داده و از احساسات اسلامي آنها در دفاع از رژیم خود و پالیسي هاي به اصطلاح نه شرقي و نه غربي شان در اکثریت

ممالك اسلامي کار ګرفتند ، در خفا شیعیان را در هر ګوشه و کنار جهان اسلام،بنام استرداد حقوق اهل تشیع ، بر ضد ممالك شان به تخریبات و ایجاد بي نظمي و نا امني ها تشویق و ترغیب نمودند که در جریان همه این اقدامات ، تهران همکاري مستقیم کمونیزم شوروي و حرکت هاي کمونیزم پسند جهاني را با خود داشت. ایرانیان به منظور خوشخدمتي به کمونیزم و به اصطلاح بخاطر ضربه زدن به منافع امریکا در شرق میانه، به کمك کمونستان لیبي، سوریه ، یمن ، فلسطیني و دیګر کشور هاي خلیج،از اولین سال پیروزي شان تا امروز، در جریان مراسم فریضه مقدس حج ، ابن بنا پنجم اسلام، دست به بمب ګذاري، تظاهرات تخریبي و ایجاد بي نظمي ها در عربستان سعودي خصوصاً مکه معظمه و حرم مقدس کعبه زده که این حرکت شان بخشي از دشمني شیعه یان با اسلام بوده و هیچ ارتباطي به اصطلاح به منافع امریکا ندارد.

آنها به همکاري دیموکراتان کمونیست یمن ، شیعه ایزم را در آن کشور پرورش داده و جنګ هاي داخلي را در یمن شعله ور ساختند . رهبران شیعه پرست ایراني در ساحه معاملات و روابط شان با کشور هاي همسایه نیز حقوق شیعیان ممالك همجوار و تبارز آنها در صحنه هاي سیاسي کشور هاي شان را ، اساس

پالیسي خارجي خود قرار داده و ضربات بس زیان آور به امنیت منافع همسایه ګان خود وارد کردند که کشته شدن ده ها هزار تن از مسلمانان بي ګناه و به آتش کشیدن مساجد، محله جات و بازار ها در نتیجه جنګ هاي شیعه یان به مسلمانان سني مذهب در پاکستان ، نشانه هاي غیر قابل انکار تبارز تعصب شیعه ئي دولتمردان ایراني در جهان اسلام است که در اینجا نیز شیعه یان و کمونیستان پهلوي هم به خاطر منافع یکدیګر، بر ضد دیګران به مبارزه پرداختند و همواره کمونیستان پاکستاني که بنا بر تحریك مستقیم ایران دست به مسلمان کشي و بي امنیتي در پاکستان میزدند ، حمایت همه جانبه نموده است .

ایرانیان در معاملات شان با همسایه دیګرش یعني کشور عزیز ما افغانستان، نیز از ابتدا استحکام نظام شیعه ئي در ایران از منافقت ، مکاري، مسلمان فریبي و نفاق افګني کار ګرفته ، از یکطرف در جریان تجاوز کمونیزم وحشي بالاي کشور ما و جهاد قهرمانانه افغانها بر ضد روس ، در ظاهر صحنه، مهاجرین ما را در کشور خود جا داده و از جهاد افغانستان حمایت نمودند اما در باطن بخاطر به سر اقتدار آوردن شیعیان به اصطلاح پیرو خط امام در افغانستان از انجام هیچ نوع معامله، خاینانه دریغ نه ورزیدند ، آنها در طول جهاد ملت مؤمن ما بر

ضد روس ، مناسبات مخفي شان را با اداره کمونیستي کابل، خصوصاً باند شیعه کشتمند زنده نګه داشته و موصوف را به تنظیم و انسجام هرچه بیشتر شیعه یان افغانستان ، تشویق کردند،در پهلوي آن تنظیم هاي متعصب و شریر شیعه افغاني را در ایران اساس ګذاشته و بنام جهاد ، مګر بمنظور کسب جاي پاي براي منافع ایرانیان در افغانستان، آنها را اجیر،تسلیح و به افغانستان اعزام داشتند ، همچنان به خاطر اینکه هرچه بیشتر شیعه یان افغاني در صحنه هاي سیاسي و نظامي افغانستان ، آنها را از کمك هاي متداوم نظامي و مالي شان برخوردار نګهداشتند . با نزدیك شدن انقلاب اسلامي افغانستان به پیروزي نهایي، ایرانیان تلاش هاي شان را به مراتب ازدیاد بخشیدند تا مزدوران خود را در افغانستان ، حایز مقام و اهمیتي سازند.در جریان این تلاش ها ، تماس هاي مخفي با کاجي بي و حکام کمونیست شوروي بر قرار ساخته بالاخره بعد از کوشش هاي فراوان ، روس ها را در حالیکه جهاد قهرمانانه ملت ما در شرف پیروزي بود، متقاعد ساختند تا بخاطر حصول جاي پاي براي پیروان خود و شیعه یان ایراني ، با هم معامله کنند . در این معامله از منافقت دیګري نیز کار ګرفته شد ، ایرانیان با همکاري کمونیستان تاجکي ، به عنوان متحد ساختن اقلیت ها در افغانستان و اعاده حقوق آنها ، برخي از ګروهك هاي فروخته شده تاجك افغاني را نیز

تطمیع کرده و مثلث متشکل از شیعه یان ، بقایاي کمونیزم و تاجك ها را بنام دفاع از حقوق اقلیت ها و به اصطلاح،مبارزه به خاطر نجات آنها از حاکمیت پشتون ها تشکیل دادند.این طراحیِ ایرانیان ، کمونیزم شکست خورده را نیز خوش به نظر خورده و پیروانش را که در حال نابودي کامل در افغانستان بودند مأمور به ایجاد ائتلاف با شیعه یان و اقلیت هاي مزدور دیګر در افغانستان ، نمودند . بالاخره کار به جایي کشید که سیر انقلاب اسلامي افغانستان پس از پیروزي آن منحرف ګردیده و دست آورد هاي جهاد ، یکسره به سوي نیستي سوق داده شد ، در نتیجه همین مداخلات بیشرمانه و تلاش هاي غیر انساني ایرانیان، جنګ هاي تنظیمي ، قوم پرستي، تعصبات مذهبي ، لساني و سمتي ، ملت ما پارچه پارچه و کشور ما به ویرانه مبدل ګردید اما ملت قهرمان و شهید پرور ما با همه، این مظالم و مصائب ، مقابله، دلیرانه نموده از جهاد و تلاش هاي شان در راه حاکمیت دین مقدس اسلام و تأمین استقلال ، تمامیت ارضي و وحدت ملي کشور دست نکشیدند .

تحریك اسلامي طالبان افغانستان در رأس این مجاهده ، تأسیس و ملت مجاهد ما در صفوف آن تنظیم ګردید تا آنکه به فضل ایزد متعال و قرباني هاي بي مثال طلباً عزیز و ملت شهید پرور ما، یکبار دیګر امید هاي پژمرده ملت تازه ګردیده و همه، اقشار مردم

، حمایت شان را از این تحریك مقدس اعلام داشتند . تحریك جهاد پرور طلباي کرام در اندك زمان سیر انقلاب اسلامي را دو باره به صراط مستقیم موافق ساخته دشمنان اسلام و مزدوران اجانب را در هر ګوشه و کنار کشور نابود ساختند . در حالیکه دولت اسلامي افغانستان در شرف پیروزي نهایي و برچیدن بساط همه مزدوران اجانب در کشور بود، ایرانیان کینه توز و اسلام دشمن ، باز تلاشهاي وسیع نظامي با مصارف بي حساب مالي ، در راه به پا ایستادن بقایاي کمونیزم و غلامان خود شان ، براه انداختند و این دشمنان قسم خورده ملت ما را به مقابله علیه دولت اسلامي افغانستان، تشویق ، تسلیح و تشجیع نمودند ، همه، جهانیان ګواه اند که ایرانیان همین اکنون یاغیان شرارت پیشه، و مخالفین فراري دولت اسلامي افغانستان را در آغوش خویش جا داده ، کمپ هاي تربیه نظامي براي شان تأسیس نموده ، روزانه ده ها محموله اسلحه و مهمات نظامي به مناطق تحت اثر مخالفین اسلام در افغانستان انتقال داده ، مطبوعات ایراني همچو زبان بي حیاي خود مخالفین و بیشتر از آن،شب و روز با دروغ بافي هاي شاخدار شان بیشرمانه در خدمت دشمنان ملت ما مصروف نشرات اند و آتش جنګ تعصبات مذهبي ، قومي، لساني و سمتي را در کشور ما شعله ور میسازند که با این اعمال حکام ایراني،همه، مسلمانان مخلص جهان آزرده خاطر ګردیده ، صرف بقایاي کمونیزم ، روسهاي

وحشي و مزدوران افغاني شان از ایشان راضي و خرسند میشوند. در سایه همین پشتیباني هاي مداخله ګرانه و بیشرمانه ایرانیان در کشور ما ،ګروهك متشکل از بقایاي کمونیزم ، وحشیان شیعه ایزم و مفسدان ستمیزم افغاني از انجام هیچ جنایتي در برابر ملت ما دست بر نداشتند . رهبران منافقت پیشه ایراني که خود را خواهان استقرار نظام اسلامي در جهان معرفي مي کنند، عوض آنکه از اصالت انقلاب اسلامي و خواسته هاي برحق ملت مجاهد ما حمایت میکردند بازهم بنا بر همان خصلت تعصب آمیز و شرارت پیشه شان، حمایت بقایاي کمونیزم و حامیان آنها را در کشور ما پیشه خود ساخته و در آخرین لحظات عمر بقایاي کمونیزم ، خوشخدمتي و صداقت شان را به رهبران نابود شده کمونیزم جهاني ابراز میدارند. اما انشاء الله همان طوریکه این ملت قهرمان، ارتش سرخ روس و پیمان جهاني وارسا را زبون و شرمسار از صحنه هاي سیاسي ، نظامي، و جغرافیایي جهان بیرون کرد ، این مزدورك هاي بي ایمان و چپاولګر شان رانیز به سزاي اعمال شوم شان خواهند رسانید ؟ یاد شان همچو شکست هاي انګلیس و نابودي شوروي ، جزء از یادګار هاي تاریخي ملت حماسه آفرین و شهید پرور ما خواهد شد و تا جهان است باز کسي را جرئت کج نګریستن به سوي این میهن شهیدان و غازیان حاصل نخواهد ګشت .

فروغ اسلام

محمد ناصر نصیب

درکار گاه صنعت بیچون و کبریا
مقدار رهروان سلامت به اعتلا .
الطاف خالق است به مخلوق مستدام
خوش مشربان که راسترواند از وفا
از جدو جهد، امت اسلام سر فراز
در هر زمان و هردم و هر حال و هر کجا
با کفر و شرك و ظالم و بیداد درستیز
با عدل و داد و صلح و صفا هست همنوا
فرمان پذیر عرصه، منقاد و راستان
در عمق اعتقاد و موازین، هم آشنا
ما را که هست نعمت اسلام ، ارمغان
بر قله هاي فوز فلاح است، رهنما
معروف را به (امر) ضیا بخش و پر فروغ
وز منکرات (نهي) گزیبست خوش ادا
برماست، بهر رفعت این دین بي بدیل
هستي نثار کردن و جان در رهش فدا
باشد یقین که هادي بي راه سعادت است
آئین پاك حضرت سردار انبیا «ص»
از پیشگاه خالق یکتا ، بروز حشر
فیض شفاعتش به «نصیب» است التجا

طالبه ستا په وینه

قاري فضل الدین «سراجي»

طالبه ستا په دین سرورکولو ته سلام
د حق جذبه په زړه کي سربښندلوته سلام
تنکي نوي خواني دي، زړه ډك له ارمانونو
د هیلو ناوکي دي ، شوه سر په فریادونو
د سره توپان په مخ دي ودریدلو ته سلام
شرنگار د هتکړو دي ، په شور کړل ولسونه
د وینو فوارو دي، څپانده کړل موجونه
پخپلو پاکو وینو لمبیدلوته سلام
د اوښکو بو ارمان دي، ختلي لکه لمر دي
دا ستا د تن هډوکي، نن زیري د اختر دي
دا ستا د پاك احساس دي هسکو خلوته سلام
دا څکه ده رنگینه ، طالبه ستا په وینه
تحفه ده دي ملت ته ، د زړه په پاکه مینه
د داسي مشالونو بلیدلو ته سلام
ستا وینه چي بهیږي ، ژوندي بي پاك اسلام کړ
آزاد گرځه ولسه ، څپور هر خوابي پیغام کړ
د خپل ملت په درد ستا ژړیدلو ته سلام

د ادب مرغلري

«دري شیان انسان هلاکوي :
۱ – د نفساني خواهشاتو نه پیروي کول.
۲ – بُخل.
۳ – تکبر.

«دري شیان انسان ته نجات ورکوي:
۱ – په پټه او په ښکاره د خداي "ج" نه داریدل .
۲ – په خوښي او خفگان کي حق ویل.
۳ – په نیستي او بډائي کښي اقتصاد مراعاتول.

معني حب الوطني

عبدالرقیب «جهید»

اي وطن سنگر گزین کوهسارانت شوم
کشته راه خدا ، در دشت و دامانت شوم
خاك پاکت سرمه، چشمم شود چون توتیا
مأمن پر افتخارم، جان بقربانت شوم
من شدم پرورده، آغوش پر مهرت وطن
عندلیب باغ و بستان و بهارانت شوم
زآب و خاك وهم هواي دلکشت کردم نمو
فخر دارم، زمره، آن را دمردانت شوم
قامت زیباي تو خم شد ز دست ملحدین
خار چشم خاین و خصم غدارانت شوم
در ره آزادیت کوشم ز جان و دل مدام
تو دژ اسلامي من، کاش دژبانت شوم
گشت احمر کابل وهم لاله گون شهر هرات
من فداي رهروان و پاکبازانت شوم
بهر حفظت مي خزم بر هر محاذ و سنگري
پاسبان لوگر و پنجشیر و پروانت شوم
در فراقت روز و شب از غصه مي سوزم چو شمع
مرز دار بلخ و بغلان و بدخشانت شوم
مرحبا! بر اردوي دشمن ستیز و قهرمان
حامي هندوکش و پامیر پغمانت شوم
مردم با غیرتت کرده قیام در راه حق
همنواي ملت و قوم مسلمانت شوم
از جهاد بر حق ما در جهان باطل شکست
تو امیر لشکري، من مرد میدانت شوم
زادگاهم «ده یحیي»، کشورم افغانستان
همرکاب مخلصان و پاسدارانت شوم

د پلیگون سیخلي مشهد ته

ملا اسد الله «حنیفي»

په مشهد دي گل کرم، الله دي مل شه
سپین بیرغ پري دروم الله دي مل شه
نه شهید بي د اسلام د سپیني لاري
نغري دي تودوم الله دي مل شه
ماراوري ستا مزار ته جام د اوښکو
په ورو ورو بي تو یوم الله دي مل شه
سر را جگ کړه چي ارزو دي پوره شوي
دا دي زیري درکوم الله دي مل شه
لا تر اوسه دي سلگي اوریدل کیږي
الهامونه درنه وړم الله دي مل شه
«حنیفي» درته راوري شال د شعر دي
په مزار دي غوروم الله دي مل شه
کابل وزیر اکبر خان مینه
۱۳۷٦/۲/۲۳ هـ ش

زما د فتحو

نیروال

خلاندي به مدام وي حماسي زما د فتحو
نسلونه به تل ستایي کارنامي زما د فتحو
اشنا و دي لیده زما تکبیر او تدبیرونه
هیواد کي چي خپري دي انگازي زما دفتحو
پامیر شو لا سر لوړي د جهان په ولسوکي
اوس بیوري هندوکش کي زلزلي زما د فتحو
یوازي بي تسخیر دغه جاني خواکونه نه کړل
نن زړونه خپلوي دا عقیدي زما د فتحو
د سولي رڼایي، په وطن کي تیته کړي
خلیږي په افق کي پلوشي زما د فتحو
د شر او د فساد زور او قو ت بي په گونډو کړ
نن کیږي کور په کور نوي کیسي زما د فتحو
لښکري بي رواني مخ په وراندي لکه سیل
کوي بي ملگرتیا نن فرښتي زما د فتحو
نسکوري بي ماڼي د زور واکیو کړي له بیخه
تلپاتي به وي زړوکي خاطري زما د فتحو
بو موټي بي هیواد کړ د خپل سپین بیرغ د لاندي
اوس وایه «رازقي» نو تراني زما د فتحو

بهار شریعت

دراني

بهار، این بار وجاهت ویژه اي دارد ، فروغي جانبخش آن با صداي پر طنین رزم و پیکار فرزندان برومند این دیار، بدلهاي پر قوت مؤمنین کشور ما ، نور امید و پیروزي را جلایش و درخشندگي نو مانند مي دهد . بهار، این بار مسرت و آرامش بي بدیل را با خود دارد، زیرا پیروزیهاي قاطع و عظیم به نفع حریت، صلح ، سازندگي و اطمینان به فردا را با تداوم و پیگیري بدوش گرفته است، و فردا را هر چه تابناك تر و مملو از صفاي ضمیر نسبت به اسلام، وطن و مردم جلوه گر میسازد .

بهار شریعت در آغوش مردم گرم میگیرد و دوست داشتني و گرامي تر میشود بهار شریعت، طراوت و زیبایي مي افریند و احیا گر روح افسرده انسان و طبیعت میشود، و این بهار، پیك شادي را به همه میرساند و لطف بیکرانش را بتمامي موجودات دنیاي ما ارزاني میدارد و اما نمیشود همه ره آورد هاي این موسم فرحبخش را يك به يك شمرد و ستایش کرد . اما جا دارد که قافله سالاران این کاروان پر فروغ بهار شریعت را به ستایش گیریم و شادباشش بگویم، طالبان پیشاپیش قافله پر تحرك بهار، سال نو را با گام هاي متین میپیمایند اینها گلهاي امید فردا مردم اند، این گلها براي اینده تابناك جامعه ما پر بها و گرامي تر اند آنها راتحسین میکنیم و از بوي پر عطر شان مستانه پر غرور میشویم .

اینها جوانه هاي پر بار چمن زار سبز زندگي اند که خواستار فضاي مناسب رشد و نمو خویش میباشند . آنها حریت ... و صلح میخواهند، اما حریت و صلح را نمیتوان بدو جهاد خستگي ناپذیر نصیب شد . اگر حریت تمناي آنهاست و امکان دست یافتن به کلید هاي پیروزي و سعادت، پس باید براي تصاحب آن تمام انسان هاي مؤمن و متعهد ، متحدانه و دلسوزانه کار نمایند، زیرا دشمنان، حاضر نیستند این نعمت بزرگ براي ما دستیاب گردد، بایستي آنرا بچنگ آوریم و عزیزش بداریم .

افتخار جاویدانه کساني را است، که در يك این چنین بهار، براي فردا، با مسؤولیت با میثاق و به عزم راسخ مجدانه جهد میورزند، فردارا دوست میدارند و از قهرمانان و آزاد مردان تاریخ سر مشق میگیرند، که بدون شك این افتخار رسالت سترگ و مسؤولیت بزرگ تاریخي طالبان را است .

خطاب به جوانان

نکته ها

سید هاشم «هاشمي»

۱ – جوانان يك جامعه اگر مهذب گردند، بطور یقین دست آورد آینده آن جوانان گرانبها تر و ارزشمند تر از آن خواهد بود که کوههاي کشور آن جامعه طلا و دریا هاي شان بستر لؤلؤ و مروارید روان گردد .

۲ – جوانان عزیز کشورم! هر چه سرور و شادي، عزت و آزادي ، نور و آگاهي ، جد و جهد اجتماعي و بصیرت نادره و عالي میخواهند، همه را از درياي نور اسلام، قرآن و عرفان الهي مي یابند و بس .

۳ – جامعه بشري وقتي به سعادت اعظمي و شرافت اعلي میرسند که جوانان شان از کسالت و تنبلي بیزار و به سوي تلاش و پویایي فعال باشند اما و اما باید جوهر تلاش آن، جوهر افشانان در خدمت صیقل زدن آیینه فطرت شان تا جاري شدن چشمه هاي فرقان و حکمت از آن چشمه سار اسرار و امانت الهي باشند .

٤ – در سطح قاره هاي موجود جهان آن جامعه مسرور و مبرور خواهند بود که جوانان کشور شان به تزکیه نفس و کشف گنج گرانبهاي دلهاي شان رسیده باشند .

٥ – نسل بشر طبیعتاً بدنبال ترقي و تکاملها مي گردند . اینرا بدانند که عالي ترین مرتبه ترقي و تکاملها که باعث بوجود آمدن تعادل شرافتمندانه اجتماعي و اقتصادي ، سیاسي و نظامي، فرهنگي و علمي و ادبي و اخلاقي میگردد بطور جدو یقین در معدنهاي با القوه روح قدم جوانان نهفته میباشد، آنرا کشف و بالفعل باید کرد .

نظام خانواده در اسلام (۲)

چگونه گي روابط میان اعضاي خانواده

لیلما «بهاء»

چگونه گي روابط میان اعضاي خانواده نکته، قابل توجهي است که اسلام به آن تأکید میورزد، زیرا خانواده عنصر اصلي و اساسي جامعه است که اگر رشد همه ابعاد آن از جمله چگونه گي روابط میان اعضاي آن در نظر گرفته نشود و به آن به دیده، سطحي نظر افگنده شود، در حقیقت نه تنها زمینه هاي فروپاشي خانواده ها، بلکه جامعه نیز فراهم ساخته شده است .

توجه به چگونه گي روابط میان اعضاي خانواده در همان آغاز تشکیل خانواده باید در نظر گرفته شود . اساساً خانواده توسط يك زن و يك مرد به عنوان زن و شوهر مطابق هدایت خداوند بر اساس همسر بودن ایجاد میشود .

اگر این خانواده، نو ایجاد یا نو تشکیل مطابق اساسات قرآن مجید و سنت نبوي آغاز به فعالیت خانواده گي کنند طبعاً که سعادت و خوشبختي را نصیب میشوند .

یکي از موضوعاتي که اسلام در آغاز تشکیل خانواده به آن تأکید مینماید رضایت جانبین و اولیاي هر دو جانب میباشد، زیرا این رضایت قبل از تشکیل خانواده در چگونه گي روابط في مابین آنها در تشکیل خانواده اثرات قابل ملاحظه یي دارد .

رضایت قبل از تشکیل خانواده است که تعاون و همکاري و همیاري را در میان زن و شوهر در زمینه هاي مختلف مادي، معنوي و روحي به بار مي آورد و هر دو را به کار و کوشش در جهت تحقق هدف مشترکشان که همانا ساختن خانواده یي از هر حیث سعادتمند است، وامیدارد .

بعد از مسأله رضایت، مسأله تفاهم پیش مي آید یعني ایجاب مینماید که خانواده، نو تشکیل باید روي مسایل و موضوعات مختلف زنده گي تفاهم داشته باشند .

تفاهم میان زن و شوهر زماني بیشتر ایجاد میشود که هم کفو باشند مسأله، هم کفو بودن نکته، قابل توجه در اسلام است . اسلام حکم میکند دختر و پسري که طرح زنده گي مشترك میریزند باید هم خودشان و هم والدین شان هم کفو باشند در غیر آن بعد از سپري شدن مدت زمان اندك شالوده، زندگي شان از هم فرو میپاشد. آناني که مطالعه دقیق از اسلام ندارند و بیشتر تحت تأثیر عرف، عادت و عنعنات نا پسندیده به سر میبرند از مسأله کفو تعبیري جدا از تعبیر اسلامي دارند. آنها فکر میکنند که اگر دختر و پسر و والدین شان از لحاظ مادي در يك سطح اقتصادي قرار داشته باشند هم کفو هستند در غیر آن هم کفو نیستند .

در حالیکه کفو از نظر اسلام آنست که همسران باید از نظر اجتماعي روحي و فکري همدیگر خود را بر پایه، هدایات خداوند بپذیرند و همین هم کفو بودن از نظر اجتماعي، روحي و فکري است که در میان اعضاي خانواده هم فکري و تفاهم ایجاد نموده و اولاً رشد خانواده و در نهایت امر رشد جامعه را که خانواده واحد اساسي آن است باعث میشود .

بسیاري از مشکلات و پرابلمهایي که در میان زوجین به ظهور میرسد دلیل عمده و اساسي آن در نظر نگرفتن و یا ساده انگاشتن همین موضوعاتي است که اسلام قبل از عقد نکاح به آن تأکید زیاد میورزد .

این موضوعات براي دختران و پسران باید از جانب اولیاي شان تعلیم داده شود . ولي متأسفانه آنعده اولیائي که آگاهانه تحت تأثیر عوامل غیر اسلامي چون عرف، عنعنات نا پسندیده یي که اسلام با آن سر سازگاري ندارد و براي محو و نابودي آن همواره تلاش میورزد : قرار دارند وقتي مسأله ازدواج و عقد نکاح فرزندان شان مطرح میشود صرف به مسایل طبیعي ، جساني و مادي مي اندیشند و توافق در مسایل اجتماعي، فرهنگي، فکري و روحي را که بالاي روابط في مابین آنها تأثیر به سزا دارد در نظر نمیگیرند و به آن توجه جدي نمي نمایند .

در نظر نگرفتن همین موضوعات یعني تفاهم، توافق، تعاون، هم کفو بودن در مسایل اجتماعي ، فکري و روحي در زمان قبل از عقد نکاح باعث آن میشود که روابط میان زوجین صمیمي نبوده و هر دو از محبت لازم اسلامي برخوردار نگردند .

محبت در اسلام مفهوم خیلي عمیق و دقیق دارد . بدین معنا که يك انسان، انسان دیگر را و یا يك همسر ، همسر خود را بخاطر اینکه به راه خدا روان است مطابق هدایات خداوند رفتار مینماید و با وي در تعاون و همکاري همیشه گي قرار دارد ، مورد لطف و محبت قرار میدهد .

طبیعتاً اگر يك زوج مطابق هدایات اسلام حرکت کنند محبت مبتني بر ایمان به خدا در هر دو جانب میتواند ایجاد شود؛ اما بر خلاف بعضي ها که از مفهوم محبت به معناي دقیق کلمه اطلاع ندارند محبت جسمي را از همدیگر توقع دارند و تحت تأثیر تعلیمات غیر اسلامي چنان تلقین میگردند که گویا زن ناز کند و عشوه بفروشد و شوهر خریدار ناز و عشوه اش باشد و به وي محبت بورزد. در غیر آن اگر شوهر به زیبایي هاي جسمي وي توجه زیاد نکند تصور میکند که شوهرش وي را دوست ندارد و شوهر فکر میکند که اگر خانمش همه حرفها و اوامر وي را کورکورانه بپذیرد و در زمینه کوچکترین ابراز نظر نکند نشانه، محبت خانمش نسبت به وي است .

در حالیکه قسمي که قبلاً هم ذکر کردیم : اسلام محبت مبتني بر ایمان به خدا را در میان زن و شوهر میخواهد ایجاد کند و شکوه و گله آنها از همدیگر یا بي مهري میان آنها ناشي از آن باشد که یکي از طرفها یعني زن و یا شوهر از راه خدا انحراف ورزیده است، نه اینکه به زیبایي خانم توجه صورت نگرفته شده و یا از اوامر تا به جاي شوهر اطاعت به عمل نیامده است .

زیبایي جزء وجود يك مومن و مومنه است؛ هر قدر ایمان انسان نسبت به خداوند قوي و راسخ گردد به همان اندازه نور ایمان در صورتش تجلي میکند و وي را زیبا میسازد که ضرورت به توصیف و تعریف ندارد .

به همین ترتیب اوامر و نواهي شوهر اگر به أساس حکم قرآن و سنت نبوي باشد زني که به راه خدا روان است بدون چون و چرا آن را میپذیرد پس احتیاجي براي تعصب ورزي مرد احساس نمیشود .

اسلام براي زن و مرد موقف خیلي ها بالا و بلند داده است چه خداوند آنها را خلیفه خود در روي زمین خوانده است و به آنها هدایت میدهد که چگونه میتوانند به عنوان يك زن و مرد مومن و مسلمان روابط نیك و حسنه میان هم داشته باشند و فرزندان صالح و رهرو راه حق تربیه کنند و بر جامعه تأثیر مثبت و فعال بر جا بگذارند و به عنوان الگو و نمونه، يك زن و مرد مومن و مومنه، جامعه، خویش را به طرف حق و حقیقت رهنمون شوند .

به هر حال چگونه گي روابط میان اعضاي خانواده در اسلام از اهمیت فوق العاده زیاد برخوردار بوده که روابط حسنه و سالم آن، تعالي و تکامل و غیر حسنه و ناسالم آن، تقهقر خانواده و جامعه را باعث میشود.

و من الله التوفیق

د تاریخ نه باید زده کړه وکړو

مجاهد

افغان با تور ملت د خپل لرغوني تاریخ په بهیر کي ډیري تودي او سړي زغملي ، ډیري ستونزي یي گاللي او ډیري قرباني یي ورکړي، خو هیڅکله یي بو تیري کوونکي خواك هم پخپل مقدس حریم کي په آرامه ساه ایستلو ته ندي پرېښي .

دلته د مقدوني سکندر نه نیولي تر چنگیز او صفویانو او بیا د انگریز نه نیولي تر روسانو او د هغوي د مزدورانو پوري، هر یو پخپل وار حادثي وزیږولي او په بیلو بیلو پلمویي ددغه هیواد د مادي او معنوي شتمنیو د لوټ او تالان په غرض ستري تاریخي تراژیدي را منځته کړیدي او په تیره بیا زموږ یو شمیر پیژندل شویو گاونډیانو خو زموږ د تاریخي هویت د نابودولو دپاره هم تینگه ملاتړلي ده او یو شمیر هیوادونه یي همدا اوس هم افغان باتور ملت د نابودي په غرض د مکر او چل دامونه غوړوي او د دوي دا کار تاریخي ریښي لري، د ساري په توگه :

د معتبرو تاریخو نو په حواله کله چي په ۱٦۹٤ عیسوي کال صفوي شاه حسین د فارس واکمن شو، نوبي د خپلي واکمني د ټینگښت په غرض گرجي گرگین چي په شهنواز ملقب شوي وو او تر مسلمانیدو دمخه یي د مسلمانانو سره د دښمني او کرکي له امله زيات شهرت درلود په ډیره ناځوانمردانه توگه د کندهار تاریخي ښار ته د هغه ځاي د میړنیو مجاهدو هیوادپالو د ځپني په غرض د حکمران په توگه راولیږه تر څو خپله ناروا واکمني په افغان باتور ملت باندي جاري وساتي .

هغوي نه پواځي دا چي خپل دي شوم هدف ته ونه رسیدل ځکه افغانانو د حاجي میرویس په مشري پرغملگر پوځ د هغوي د مشر سره یو ځاي پوپنا کړ، بلکي هوتکي شاه محمود او شاه اشرف وکولي شول د افغاني واکمني کرښي د صفوي واکمنانو د مرکز سره وصل او د هغوي پلازمینه د خپلي واکمني مرکز وټاکي .

کـه څـه هم چي د تاریخ دنده د تیرونه عبرت، د حال پیژندل او د راتلونکي اتکل دي. خـو داسي معلومیږي چي ایراني چارواکي نه غواړي د تاریخ نه زده کړه وکړي ځکه همدا اوس اوس زموږ په کورنیو چارو کي د هغوي بر بندي لاسوهني او یا د هیواد ځځه د تیښتیدلو قوماندانانو او ټوپکیانو بیا وسله وال کول او په شاتپول او دعامه وژني په خاطر زموږ هیواد ته د هغوي د راالیږلو پروگرام د وخت د فارس د چارواکو د هماغه بنکیلاك گرانه سیاست سره ښیغي اړیکي او مستقیم تراولري .

د ایراني چارواکو او د هغه هیواد د یو شمیر متعصبو لیکوالو (؟!!) د کړو وړو او لیکنو نه داسي جوتیږي چي هغوي لا تر اوسه په حقایقو باندي ښه نه دي پوهیدلي او یا قصدي نه غواړي په حقایقو باندي ځان وپوهوي نو لدي کبله یي نه یواځي دا چي په خپلو لیکنو کي په افغانستان باندي خیټه اچولي، بلکي نړیوال اتلان او نوابغ یي هم په جغرافیایي لحاظ د دوي پخپله اصطلاح خپل «مال» گڼلي، ښاغلي محمود افشار یزدي او یا محترم مهدي فرخ د هماغه لیکوالانو په ډله کي دي کوم چي خپل خانونه یي د «ایرانیزم» د تعصب په هواوهوس کي له یوي مخي غرق کړیدي. یو یي مقدوني سکندر ایراني گڼي او استدلال کوي خرنگه چي تومورې په ایران کي اوسیدلي، د یوي ایراني سره یي واده کړي او ایراني لباس یي اغوستي ځکه نو باید ایراني وگڼل شي نه یوناني خو بل یي افغان میړني ولس د مذهبي تعصب له مخي د یوه سره په یو شمیر ناروا تورونو تورنوي (تاریخ سیاسي افغانستان – د مهدي فرخ لیکنه ٦٤ مخ) او په دي توگه تول خپل ذاتي خصلتونه . د انگلیسي سیاست پوه (لار د کرزن په قول) په افغان میړني ولس ورتپي نوموړي په دي هم لا بسیانکوي او ایراني چارواکوته توصیه کوي چي :(افاغنه فقط باید بترسند!) (افغانستان در مسیر تاریخ، ٤٧۷ مخ) .

زه فکر کوم د افغانستان په اړوند د ایراني چارواکو او یو شمیر غرض لرونکو لیکوالو همدغه د مذهبي تعصب نه ډك چال چلند دي چي د خپلو پلوي دلو او اشخاصو لکه خلیلي، جاوید او داسي نورو په واسطه زموږ په هیواد کي د جگړي او رټل بل سائل غواړي او کله یوه او کله بله ډله په شا تپوي، وسله واله کوي یي او د کشالو د حل له پاره د خبرو اترو لار نه بلکي جگړه غوره بولي ایراني چارواکو ته په کار ده چي د تعصب د نیلي نه ښکته او د منطق لار خپله کړي د افغانانو په کورنیو چاروکي لاسوهني بندي او د تاریخ نه پند واخلي هیڅ رازغیر منطقي طرحي او لمسوونکي نقشي نشي کولي د افغانانو اراده کمزوري کړي . افغان میړني ولس لکه د پتنگ په څیر چي لگیدلي د یوي نه ناخښي او پري سرور کوي په یوه اتفاق د خپلي خاوري میني داسي نشه کړي چي په دي لار کي د سر او مال هم څه پروانه ساتي او هره گړي سر ښندني او قرباني ته چمتو دي.

ددي خاوري هر زوږ او ځوان، ښځه او تر لاڅه چي هره تړه او غر، وني او بوټي یي په جار ناري وهي چي:
غیر راگر نظرحرص وطمع سوي تو بود
ضامن هستي تو، قوت بازوي تو بود
xxxxxxxxxxxxxxxxx
****

د اطلاعات او کلتور سرپرست وزیر ...

شویدي او یوه شوري یې جوړه کړیده څو په هم که دوي واقعاً مذاکرات وغواړي او د مفاهمې له لارې مشکل حل کړي او اسلامي نظام ته غاړه کیږدي او په افغانستان کې مستحکم اسلامي حکومت راسره ومني نو بیا موږ هم مذاکرې ته حاضر یو .

محترم «متقي» د بي بي سي د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چې : د اسلامي دولت مخالفین وایي چې یو نړیوال کانفرانس دې هم په دې اړه راوغوښتل شي او په دې کانفرانس کې دې ګاونډي هیوادونه او په ځانګړې ډول ایران، پاکستان ... ګډون وکړي چې د افغانستان ستونزې ته د حل لاره پیدا کړي ستاسو دریځ په دې اړه څه دې ؟ داسې وویل : لکه چې عرض مو وکړ چې د افغانستان په شمال کې موږ مرکز نیولي دي او هلته زموږ مجاهدینو عملیات پیل کړیدي او دمخالفینو په صفونو کې انسجام او نظم له منځه تللي دي او په خپل منځ کې سره بې اعتماده شویدي نو دوي غواړي چې له هسدي لارې نه طالبان وروته مصروف وساتي او دوي له دي موقع نه استفاده وکړي او خپل ګړېدلي لېنګي بیرته ټینګ کړي او حقیقت دا دي چې دوي له دي لارې د افغانستان د مشکل حل نه غواړي که دوي وغواړي، د افغانستان مسئله افغانان پخپله حل کولي شي . پخپله دې سولي ته غاړه کیږدي د افغانستان مشکل حل دي بیا هم هر هغه څوك چې د افغانستان د سولي لپاره کارکوي، په افغانستان کې د اسلامي نظام لپاره کار کوي موږ د هغوي د سوله ایزو هڅو هرکلي کوو .

محترم متقي د یوي بلې پوښتني په ځواب کې وویل : موږ ددې ښار نه چې په کې ژوند کوو شاوخوا ته پنځوس پنځوس شپیته شپیته کیلو متره یوي او بلي خواته خطونه لرو، د سیمې مجاهدین زموږ سره ملګري دي د بغلان ولایت ټول مجاهدین د پلخمري نه نیولي تر ګرداب پوري په زرګونو مجاهدین زموږ سره ملګري دي او دا سیمه ددې منطقې د زړه حیثیت لري نو موږ هیڅکله دېته حاضر نه یو چې دا سیمه تخلیه کړو ځکه موږ محاصره نه یو موږ کولي شو چې د خداي په نصرت له دې سیمې نه تر لس کالو پوري دفاع وکړو .

علماي محترم اهل تشیع در مصاحبه با ...

اینك اظهار نظر هاي شانرا بدون کم و کاست به نشر مي سپاریم.

سوال : طوریکه شما شاهد اوضاع هستید دولت اسلامي افغانستان همه اقوام و قبایل افغانستان را بدون کدام تبعیض، منحیث اولاد این وطن دانسته و در چوکات دین مقدس اسلام حقوق همه اتباع کشور را قابل احترام میپندارد لطفاً بگوئید که چرا بعضي از مردم اهل تشیع، در رأس حزب وحدت شاخه خلیلي بناي مخالفت را با دولت اسلامي افغانستان گرفته است؟

جواب : (تقدسي): در پاسخ سوال شما باید عرض کنم که دولت اسلامي افغانستان تحت رهبري تحریك اسلامي طالبان، هیچگونه تبعیض و امتیاز را در بین ملیت ها پیروان مذاهب و در بین اهل لسان هاي مختلف اجازه نمیدهد همه ملت را به یك نظر مي بیند و عدالت اجتماعي در کشور [illegible] است، معیار فقط همان متقي بودن و عمل صالح میباشد اما اینکه چرا حزب وحدت مخالفت مي کند من عرض میکنم که در اصل، خود پیروان مذهب شیعه مخالفتي با دولت اسلامي ندارد، اما اینکه حزب وحدت مخالفت میکند مربوط خود شان است . مردم ما هیچ مخالفتي ندارند همه با خاطر آرام به زندگي روزمره خود مصروف هستند اینکه حزب وحدت مخالفت مي کند از نظر ما مخالفت آنها مفهومي ندارد بخاطریکه دولت اسلامي تحت رهبري تحریك اسلامي افغانستان یگانه حامي و یگانه مطلوب مردم افغانستان است و بس .

(حیدري): در پاسخ سوال شما عرض میشود که مردم اهل تشیع مردمان با وجدان و با ایماني هستند و آنعده از مردم اهل تشیع که در شهر کابل زندگي میکنند قبلاً هم مردم متجاوز نبودند و حالا هم با ابراز شکر از بارگاه الهي به زندگي عادي خود مصروف اند اما در مورد کسانیکه وابسته به گروه ها است هر عمل شان مربوط به تصمیم خود شان است و ارتباط میگیرد به تصمیم خود شان . عامه مردم اهل تشیع با آنها کدام پیوندي ندارند .

سوال : لجاجت و جنگ افروزي فعلي حزب وحدت را چگونه تحلیل مي کنید و اثرات این فتنه جوبي هاي شانرا بالاي حال و آینده اهل تشیع افغانستان، چطور ارزیابي مینمائید ؟

جواب : (تقدسي): ما لجاجت بازي و جنگ افروزي همه احزاب را که از جمله، آن حزب وحدت است، مشروع نمیدانیم و مخالفت در مقابل دولت اسلامي را جرم میدانیم اما اینکه در باره وضع مردم اهل تشیع چه اثراتي دارد من فکر میکنم که دولت اسلامي، حساب ملت را از حساب احزاب جدا میداند و هر کس به کیفر اعمال خود خواهد رسید ما یقیناً میدانیم که دولت اسلامي افغانستان به واسطه یك دانه کیك یا پنج دانه کیك پوستین را در نمیدهد، اگر اثرات سؤ دارد مربوط احزابي است که مخالفت میکنند متوجه مردم نخواهد بود

(حیدري): قبلاً نیز گفتم گروه ها هر تصمیمي که میگیرند آن تصمیم مربوط خود همان گروه است حزب وحدت مسؤول تصمیم گیري خودش است، بگذار که مردم افغانستان قضاوت کنند که در افغانستان واقعاً به نفع اهل تشیع کي ها بودند، کي ها خدمت کردند و کي ها هستند که میخواهند این مردم همیشه در حقارت و بردگي زندگي کنند .

سوال : شما منحیث علماي برجسته اهل تشیع، اعمال تخریبکارانه باغیان شیعه راچگونه ارزیابي میکنید؟

جواب : (تقدسي):از نظر ما بغاوت در برابر دولت اسلامي جائز نیست، باغي و بغاوتگر اگر شیعه باشد یا غیر شیعه، پیرو هر مذهب که باشد از هر قشري که باشد به نظر ما محکوم و مردود است .

(حیدري): شما مي دانید که دین مقدس اسلام معیار، تقوي را قرار داده است نزد دین مقدس اسلام، تنها باغیان اهل تشیع نی بلکه باغي از هر قشر جامعه که باشد محکوم است، مجرم است و روزي به سزاي اعمال خود خواهند رسید و آنها هر کسیکه باشند از هر جامعه که باشند محکوم هستند .

سوال : قسمیکه مي بینیم ایران با حمایت نظامي، سیاسي و اقتصادي مخالفین و بغات دولت اسلامي در امور داخلي کشور ما مداخله مینماید. شما منحیث یك افغان در مورد این عملکرد هاي ایرانیان چه میگوئید ؟

جواب : (تقدسي): ما مخالفت هر کشور را، چه از کشور هاي همسایه باشد یا دور دست ، کشور اسلامي باشد یا غیر اسلامي، ایران باشد یا کشور دیگر از نظر دین مقدس اسلام و از نظر ما و از نظر عنعنات ملي ما محکوم و مردود است کسانیکه مداخله میکنند و اخبار دروغ را پخش میکنند، یا کسي را تقویه نظامي میکنند و یك کسي را وادار به اغتشاش میسازد اولاً به ضرر خود شان است زیرا افغانستان یك کشوري نیست که مداخله خارجي ها را بپذیرد، هر کسیکه بالاي افغانستان مداخله کرده شکست خورده است و ثانیاً مداخله در امور کسي، مطابق حسن همجواري و اخوت اسلامي روا نیست . مسلمانان باید معاون یکدیگر باشند و یکدیگر را معاونت کنند، آن کشورهائیکه مداخله میکنند اصلاً این عمل شان عمل غیر اسلامي است و ما از همه کشور ها و از جمله ایران تقاضا داریم که نه از طریق پخش شایعات مداخله کنند و نه از طریق تقویه یاغیان آنها باید مداخله نکنند مداخله آنها نه براي خود شان فایده دارد و نه براي ملت افغانستان .

(حیدري): خدمت شما عرض کنم طوریکه ما مسلمان هستیم، افغان هستیم و از افغانستان هستیم، ما شیعه هستیم و شیعه افغاني هستیم، میخواهیم که افغاني زندگي کنیم، افغاني بمیریم، دولت ایران اگر همراه ما همکاري مینمایند لطفاً کساني را که در ایران مهاجر هستند و بسیار حالت بد دارند به حال آنها توجه داشته باشند با آنها رویه انساني کنند کفایت مي کند .

سوال : آیا مداخلات فعلي ایرانیان در کشور ما براي اهل تشیع افغانستان کدام خوشبختي را نصیب خواهد گردانید؟ اگر نه، پس چرا اهل تشیع افغانستان علناً و عملاً به مداخلات ایران در کشور ما مخالفت خویش را ابراز نمیدارند ؟

جواب : (تقدسي): عرض کردم که مداخلات ایران نه تنها به نفع اهل تشیع نیست بلکه به ضرر اهل تشیع است این مداخلات موجب سؤ ذهن و بد گماني بین اهل تشیع و دولت اسلامي افغانستان میشود، اما اینکه چرا اهل تشیع اظهار مخالفت نمیکنند، مردم ما ، مردم بیچاره هستند کدام رادیوي و کدام رسانه گروهي در اختیار آنها نیست در تکیه خانه ها بالاي منبر ،مداخله گران را محکوم میکنند همه میگویند که هیچ کس باید در امور ما مداخله نکند . بناً به صراحت مي گویم که ملت با آنها مخالف است و همیشه اظهار مخالفت میکنند در تمام محافل و مجالس .

(حیدري): من و همه مردم اهل تشیع تنها مداخلات ایران نی بلکه هر کشوري را که در امور افغانستان مداخله کنند محکوم مي کنیم اگر کسي دوست صدیق ما باشد ما را بگذارند که ما به آرامي به زندگي روزمره خود ادامه بدهیم .اگر کسي بنام شیعه اینجا مداخله میکند به غیر از اینکه زندگي را بالاي مردم بیچاره ما تنگ سازند دیگر خدمتي کرده نمیتوانند .

سوال : وضع فعلي مردم هزاره را چگونه بررسي مینمائید ؟ و موقف دولت اسلامي افغانستان را در معامله با اقوام و قبایل مختلف کشور چگونه ارزیابي میکنید ؟

جواب : (تقدسي): ما که در شهر کابل زندگي میکنیم در بین اقشار مختلف مردم و در بین پیروان مذاهب، از نظر دولت اسلامي افغانستان هیچ فرقي وجود ندارد همانطوریکه براي اقشار دیگر امنیت را تأمین کرده امینت مردم شیعه نیز تامین است فساد ، بدحجابي، دزدي و اعمال خلاف شریعت را در بین دیگر اقوام هم جرم پنداشته و در میان ملیت تشیع هم. ماکوچکترین بي امتیازي در قسمت عملکرد تحریك اسلامي طلاب در باره مردم شیعه نمي بینیم دولت همه را از نظر عدالت اجتماعي به یکسان نگاه میکنند .

(حیدري): شما در جریان هستید که من شخصاً عضویت هیچ تنظیمي را نداشتم و ندارم و فعلاً هم عضو تحریك نیستم و بیطرفانه قضاوت مي کنم که الحمد لله در سایه دولت اسلامي افغانستان تعصبات قومي نژادي، مذهبي و لساني وجود ندارد و همه اهالي مسکون در مناطق شیعه نشین، واقعاً به سر فرازي و غرور زندگي میکنند و دولت اسلامي ما همه، آن حقوق و امتیازاتي را که براي دیگران قایل شده ما نیز از آن کاملاً بر خوردار هستیم .

سوال : شما منحیث نمایندگان اهل تشیع، به رهبران کشور ایران و اهل تشیع افغانستان چه پیامي دارید ؟

جواب : (تقدسي): خودم به حیث یك فرد افغان، براي کسانیکه مداخله میکنند براي کسانیکه اغتشاش ایجاد میکنند چه خارجي باشند و چه داخلي به آنها توصیه مي کنم از آنها تقاضا مینمایم که دست از اعمال تخریبي بردارند و بگذارند که ملت افغانستان با دولت خود یکجا کشور مخروبه خود را آباد نمایند وآنها باید در قسمت اعمار مجدد افغانستان با ما شرکت و همکاري نمایند. در اخیر، ما جداً از همه مداخله گران تقاضا میکنیم که از مداخلات خود صرف نظر نمایند .

(حیدري): پیام من براي رهبران ایران و دیگر کشور هاي اسلامي همین است که به وضع ملت بیچاره و مظلوم افغانستان از نګاه دین مقدس اسلام ببینند اگر کمکي کرده بتوانند خوب و اگر نمیتوانند، مردم ما را اذیت نکنند و دست هاي شان را از مداخله در امورکشور ما کوتاه و قطع سازند .

موږ د عالیقدر امیر المؤمنین د هدایت ...

د شریعت اوونیزې لوستونکو ته وپیژنئ ؟

زما نوم ملا عبدالرحمن«رحماني» د ملا داد الله اخند ملګري یم او د مجاهدینو د تشکیل په برخه کې همکاري کوم .

سوال : که معلومات راکړي چې دا څو ورځو کې څومره مجاهدین تاسي تنظیم کړي او جهاد ته مو استولي دي ؟

ځواب : تقریباً د یوې هفتې په شاوخواکې موږدرې زره نفره دجهاد لمړیوکرښوته استولي دي

سوال : دا مجاهدین له کومو سیمونه دلته راغلي دي ؟

ځواب : زیاتره مجاهدین له جلال آباد ، پکتیا، پکتیکا، کندهار ، کنړ، هلمند او نیمروز څخه راغلي دي .

سوال : دوي په خپله دلته راغلي دي که تاسي راغوښتي دي ؟

ځواب : هغوي په خپله خوښه اود امیر المؤمنین له هدایت راغلي دي .

سوال : اوس څو تنه مجاهدین د جهاد لمړیو کرښو ته د استولو په خاطر منتظر دي ؟

ځواب : اوس هم تقریباً دوه زره طالبان د قندهار ننګرهار او پکتیا له ولایتونوته راغلي دي چې د هغوي د تشکیل په برخه کې مصروف یو .

سوال : ډېر محترم او مجاهده وروره مهرباني وکړي د شریعت اوونیزې لوستونکو ته ځان پوره معرفي کړی!

ج : زما نوم هزار ګل دي د پروان د ولایت د تګاب د ولسوالي یم .

سوال : دلته د خپل راتګ او راتلونکي پلان په هکله معلومات راکړي څنګه راغلي یې او څه کوې ؟

ځواب : انشا ء الله موږ تعرض ته روان یو د کمونستانو او ملیشو پرضد جهاد ته ځو او تر کومه وخته پوري چې د اسلام دښمنان وي نو موږ تر هغه پوري خپل جهاد ته دوام ورکوو

سوال : تاسي هغه مجاهدینو ته چې دروسانو پر ضد په جهاد کې شامل و، او اوس په کور ناست دي، څه پیغام لري ؟

ځواب : موږ له هغوي نه هیله کوو چه راشي او موږ سره ودریږي او موږ سره مرسته وکړي دا ځکه جهاد اوس هم د پخوا په شان فرض ده کمونستان نه دي ورك شوي ، ظلم و فساد نه ده ختم شوي او پر هیواد مو د بهرنیانو بریدونه نه دي بند شوي نو هغوي باید جهاد ته راشي .

برادر محترم لطفاً خود را معرفي کنید !

جواب : اسم من صالح محمد از ولسوالي چاردره ولایت کندوز مي باشم .

سوال:هدف آمدن تان به کابل چه میباشد ؟

جواب : ما بخاطر جهاد آمدیم، بخاطر پاکسازي شر و فساد و براي تحکیم نظام عدل الهي آمده ایم تا بر ضد دشمنان اسلام جهاد و آنها را تا بود کنیم .

سوال : پیام تان به مردم صفحات شمال کشور چه میباشد ؟ بخصوص به مردمیکه طي دوران جهاد مجاهد بودند و علیه روسها جهاد کرده اند به آنها چه میگوئید ؟

جواب : پیام ما همین میباشد که آنها نیز هر چه زودتر باز سلاح بر داشته و بر ضد دشمنان اسلام جهاد کنند .

سوال : محترم وروره! خپل ځان د «شریعت» اوونیزې لوستونکو ته پوره معرفي کړه !

ځواب : زه ملا شیر احمد د ننګرهار ولایت د ځرخیلو د ولسوالي اوسیدونکي یم .

سوال : تاسي د خپل راتګ د هدف په هکله معلومات راکړي چه څنګه راغلي یاست ؟

ځواب : موږ د عالیقدر امیر المؤمنین د امر په اساس بالدي دلته راغلي یو او انشاء الله جهاد ته ځو .

سوال : اوس چې د هیواد په شمالي ولایاتو کې د کمونستانو او یاغیانو پر ضد جهاد په چټکې سره روان ده ، تاسو هغو مجاهدینو ته چې د روسانو پر ضد په جهاد کې شامل و او اوس په کوروکې ناست دي، څه پیغام لري ؟

ځواب : هغوي څخه زموږ دا غوښتنه ده چې ژر تر ژره د جهاد سنګر ته راشي دا ځکه چې تر اوسه هم ټول هیواد نه کمونیزم او فساد نه ده ورك شوي .

سوال : محترمه مجاهده وروره !مهرباني وکړه د «شریعت» اوونیزې لوستونکو ته ځان معرفي کړه!

ځواب : زما نوم عبدالغفار د زابل ولایت د میزان ولسوالي اوسیدونکي او په قوم ترین او د تحریك طلباو مجاهد یم .

سوال : تاسي کابل ته څنګه راغلي یی؟

ځواب: زه دلته د جهاد لپاره راغلي یم، د خداي پاك د رضا لپاره راغلي یم چې د کمونستانو او یاغیانو پر ضد جهاد وکړم تر څو مسلمانان د هغوي له شر څخه خلاص شي .

سوال : تاسي به تر څو ورځو پوري جهاد په صف کې پاتې شئ ؟

ځواب : زه تر هغه وخت پوري جهاد ته دوام ورکوم تر څو چې زموږ په ټول هیواد کي د اسلام سپین بیرغ ورپیږي .

برادر محترم لطفاً خود را به خوانندگان محترم هفته نامه شریعت معرفي نمائید !

جواب : اسم من عبدالقدیر از ولسوالي کشم ولایت بدخشان هستم .

سوال : در ارتباط به هدف آمدن خویش به کابل لطفاً براي ما معلومات بدهید ؟

جواب : هدف آمدن من این میباشد که هر چه زودتر از این جا به خط اول جبهه و بر ضد ملیشه هاي کمونیست و یاغي رفته و جهاد کنم

سوال :طلباي محترمیکه با شما در یك گروپ هستند از کدام مناطق مي باشند ؟

جواب : این برادران از ولسوالي هاي ارګ، یفتل، شهر بزرگ و مناطق مختلف ولایت بدخشان مي باشند .

سوال : با شما از ولایت بدخشان چند نفر مجاهد اینجا تشریف آورده اند ؟

جواب : فقط همراي من در حدود پنجاه - شصت نفر مجاهدین همراه مي باشد .

سوال : پیام شما براي مردم صفحات شمال کشور چه میباشد ؟

جواب : پیام من براي مردم صفحات شمال کشور اینست که متحدانه بر ضد کمونیستان عناصر شر و فساد به قیام و جهاد شان آغاز کنند و تا استقرار نظام اسلامي به جهاد خود دوام بدهند .

برادر محترم شما خو را معرفي کنید !

جواب : اسم من محمد حسین از ولایت لغمان که در حدود یکهزار نفر غرض جهاد في سبیل الله به کابل آمده ایم و چند صد نفر ما به خط اول جنګ رفته اند متباقي حالا به خط اول سالنګ در حال حرکت هستیم که به خطر اول به استقامت سالنګ برویم .

سوال : مردم مسلمان لغمان راجع به جریانات اخیر ولایات شمال چه فکر مي کنند و چه تصمیمي دارند ؟

جواب : مردم ما به این نظر هستند که کمونیستان مکار و فریبکار هستند هیچگاه بالاي وعده هاي آنها باید اعتبار نه کنیم، اهالي مجاهد ولایت ما در همین روز ها در هر منطقه با هم جمع شده و غرض جهاد به طور داوطلبانه آماده مي شوند و بطرف کابل مي آیند .

سوال : شما تا چه زماني به جهاد ادامه مي دهید ؟

جواب : مطابق حکم اسلام تا زمانیکه کفر شرك، کمونیزم و پیروان شر و فساد در کشور ما نابود گردند و حکومت عدل اسلامي در کشور حاکم گردد به جهاد خود ادامه مي دهیم .

د افغانستان د اسلامي دولت د بهرنیو چارو ...

فرهنګي ژبنیو او د سیمه ګاونډیتوب د علایقو او مشترکاتو په پام کې نیولو سره د ایران اسلامي جمهوریت باید د سراسر امن او ثبات د تامین، ملي یووالي او د ځمکني بشپړتیا د ټینګښت او په افغانستان کې د یوه قوي مرکزي واحد دولت د جوړولو په لاري کې خپلي صادقانه او بي غرضه هلي ځلي کړي واي. او زموږ د جګړه ځپلي هیواد د بیا جوړولو په کار کې یې خپل ارزښتناك رول لوبولي واي خو په پوره اندېښني سره د افغانستان د ځوریدلي ملت د هیلو په خلاف د ایران د اسلامي جمهوریت مقاماتو د افغانستان د اسلامي دولت په وړاندي د دښمنانه دریځ په غوره کولو او زموږ په هیواد کي جګړي ته په لمن وهلو سره نه یواځې دا چې په افغانستان کي د مصیبتونو دوام او زیاتوالي سبب شول بلکې د خپلو سیاسي اقتصادي ستراتیژیکي ګټو د تامینولو په خاطر یې سیمه بیزه سوله او امنیت هم له خطر سره مخامخ کړي دي او یدي، د څه کي د ایران رسمي مقامات تصمیم لري چې په افغانستان کي د جګړي او ورور وژني اور د خپلو سیاسي، اقتصادي او ټرانزیتي هدفونو د ترسره کولو پوري د یوې مودي لپاره بل وساتي سره له دې چې د افغانستان اسلامي دولت د بهرنیو چارو وزارت او نورو رسمي مقاماتو وخت په وخت د ایران د اسلامي جمهوریت مقامات د لیدلو کتلو او د رسمي لیکونو په ترڅ کي د دیپلوماتیکو چینلونو له لاري خپل غیر دوستانه او دښمنانه چلند ته متوجه کړي دي خو د ایران لوري نه یواځې دا چې د افغاني لوري دغو جدي غوښتنو ته پاملرنه نده کړي بلکي د خپلواکي ملي واکمني ځمکني بشپړتیا او د ملي یووالي د ساتني او دیوه قوي مرکزي اسلامي دولت د جوړولو په لاره کې د زمینې د برابرولو په باب چې په هغه کې په هیواد کې ټول میشته قومونه او قبایل له هر راز نژادي ژبني او مذهبي تبعیض پرته ستر رول ولري د افغانستان په شمالي ولایتونو کي له وروستیو مثبتو پرمختیاو وروسته په افغانستان کي د ایران لاس وهونکو او لمسوونکو فعالیتونو پراخ اړخونه پیدا کړي دي لکه څنګه چې پدې ارتباط په مختلفو پوځي لوژستیکي اکمالاتو او دښمنانه تبلیغاتو برسیره د ایران مطبوعاتو د افغانستان د اسلامي دولت پر خلاف تبلیغاتي جګړه له پخوا زیاته پراخه کړیده او خپل پوځي سلاکاران او افراد یې په عملي توګه د جګړو په جبهو کي افغانستان ته سوق او ځاي پر ځاي کړیدي .

له بلي خوا د دیپلوماتیکو اړیکو د تنظیم په ارتباط د نړیوالو موازینو او د ویانا د ۱۹۶۱ کال د کنوانسیون پر خلاف د انکار نه منونکو ثبوتو نشانو پر بنسټ د ایران اسلامي جمهوریت په کابل کي د خپل سفارت د کار کوونکو له لاري د افغانستان په کورنیو چارو کي لاس وهنه کوي او غوښتل یې چې د کابل ښاریانو تر منځ اوسني سوله بیزه فضا او وروورګلویز مناسبات ګډوډ کړي .

له دي امله د ایران د اسلامي جمهوریت د مقاماتو دښمنانه عملونو ته په پاملرني سره د افغانستان د اسلامي دولت د بهرنیو چارو وزارت په هیواد کي د نافذو قوانینو او دنړیوالو مقرراتو په پام کي نیولو سره ویتیله چې په کابل کي ددغه هیواد سفارت په موقتي توګه وتړي او ددغه سفارت ټول ایراني کار کوونکي په راتلونکو اته ځلویښتو ساعتو کي له هیواد نه وباسي .

د کابل په ښار کې ...

له نظره د مساجدو د اباداولو د ارزښت په باب خبري وکړي .

ددغه مسجدونو چې د عامي روغتیا د وزارت د سرپرست محترم ملا محمد عباس اخند لخوابي د بنسټ ډبري کیښودل شوي او د کابل پوهنتون او د وزیر اکبر خان میني سیمو کي د دولت په مالي مرسته په پاخه او اساسي ډول جوړیږي په یو وخت کي په ترتیب سره څلور زره او دوه زره تنه لمونځ کوونکي ځائیږي .

مسلمانان بنګله دیشي از ...

افغانستان تحت قیادت عالیقدر امیر المؤمنین ابراز نمودند .

همچنان اشتراك کننده گان این گرد همایي از حکومت بنګله دیش تقاضا نه عمل آوردند تا هر چه زود تر به واقعیت هاي موجود در جامعه اسلامي افغانستان پي برده دولت اسلامي افغانستان را برسمیت بشناسند . محترم فضل کریم، عالم و شخصیت روحاني کشور بنګله دیش ضمن سخنراني در گرد همایي متذکره اظهار داشت : اداره فعلي دولت اسلامي افغانستان تحت قیادت تحریك اسلامي طالبان افغانستان اداره قانوني شرعي بوده و حکومت بنګله دیش باید به شناسایي رسمي افغانستان هر چه زودتر اقدام نموده با مردم متدین و مسلمان افغانستان همدردي اسلامي نماید .

د کاپیسا ولایت پراخې...

اسیران شول چې تر اوسه پوري د وژل شویو ملیشو مړي د جګړي په ډګر کې پاتې دي او د مورال بایللي دښمن نور کسان وتښیدل او د هغوي یوه اندازه سپکه او درنده وسله د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا ولجه شوي ده .

د سره صلیب نړیواله ...

واسطه په نباتاتو کي د القاح له لاري د کرنیزو محصولاتو زیاتولو سره مرسته، او په پاي کي کرونډي، معیوبین او بیوزلي خلك د شاتو د مچیو د ساتني لپاره هڅول .

په روان کال کي د آي سي آر سي د کرني ډلي د شاتو د مچیو سل صندوقه ایټالوي نسل تر روزني لاندي نیولي دي چې د کال تر پایه پوري به ۷۰۰ کیلو ګرامه شات تولید کړي. همدا راز د کابل او پروان په ولایتونو کي به په دي نژدي راتلونکي کي دوه روزنیز کورسونه پرانستل شي چې برخه وال (۶۰ تنه) به یې د شاتو د مچیو په روزلو باندي وپوهول شي . همدا راز په نظر کي ده چې په ډېرو بیوزلو کورنیو به د شاتو د مچیو موجود ۵۰ صندوقونه وویشل شي، تر څو د شاتو د تولید او د هغې د خرڅولو له لارې د کورنۍ له اقتصادي سیستم له پیاوړتیا سره مرسته وکړاي شي . په افغانستان کي د آي سي آر سي د نمایندګي د کرني ډله په دې هاند او هڅه ده چې دغه بشري فعالیت ته د هیواد په ټولو برخو کي پراختیا ورکړي .

درنو لوستونکو پورتني مطلب په کابل کي د سره صلیب د نړیوالي کمیټي مطبوعاتي دفتر د شریعت اوونیزې اداري ته د نشر لپاره رالیږلي و.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

ایا تاسي دا وایاست چي :

مزار شریف بیرته د دوستم سالاري مرکز شو ؟ نه ! د الله تعالي په فضل او رحمت سره دوستم او دوستمي ګړي د تل لپاره د تاریخ په تابوت کي میخ شول ، مجاهد او مسلمان هیواد وال یې له شر نه الله تعالي وژغورل ، الحمد لله :

پاته شوه دا خبره چې د مزار شریف له فتحې نه وروسته د طالبانو د اسلامي تحریك مجاهدینو ته ستونزې او کړاوونه را مخ ته کړاي شول دا هغه اغزي دي چې د في سبیل الله جهاد لاره تل وربانديي وکه او تنلي ده لکه چې یو نیم یا دوه کاله مخکې په نیمروزکي،دچار اسیاب له لومړي فتحې نه وروسته،په سپینه شګه او په پروان کي را مخې ته شول او بیا الله تعالي د تل لپاره هلته اغزي تصفیه کړل .

داواړه هغه ازمېښتونه دي چې الله تعالي یې په خپلو خاصو او غوره بندګانو باندي کله کله را ولي لکه دا احد په غزا او د حنین د غزا په لومړیو شیبو کي چې رسو الله «ص» او اصحابو کرامو «رضي الله تعالي عنهم» ته پیښ شول ، دغسې ازمېښتونه د مخلصو او مجاهدو بندګانو له بشري نیمګړتیا ، تقصیر او کله هم د مستوني لاري د نه رغیت له امله پیښیږي ، اوس بیا د الله تعالي لوي رحمت، فضل او کرم نه هیله لرو چې دغه ستونزې به د پخوا په شان یو مخیزه ورکي کړي او د رارسیدلو زیانونو تلافي به په نعم البدل سره وکړي ځکه : په دغه اغزنه لاره کي چې څومره قرباني ورکړو او د خطرونو مخې ته په زړورتیا سره ورځو مطلب مو یوازي د الله تعالي رضا وي :

په دغه ترخ کي چې څومره سپیڅلي طالبان او پاك مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته رسیدلي دي (انا لله و انا ...) الله تعالي دي یې د بدر او احد له شهیدانو کرامو سره مبعوث کړي رضي الله عنهم او الله تعالي دي یې خپلوانو او ملګرو ته لوي اجرونه او جمیل صبر ورکړي :

که څه هم په مزار شریف او شاوخوا سیموکي ګډوډي او بي نظمي را منځته شول مګر له نیکه مرغه اوس په پلخمري (د شمال شرق او شمال غرب دلو یو لارو په ویشتون)، بغلان او سمنګانوکي د سیمې با احساسه او دیندارو جهادي قوماندانانو او مسلمانانو له اسلامي دولت سره خپل غوخ ملاتړ ښکاره کړي دي او اوږه په اوږه ورسره ولاړ دي، د سالنګ لویه لاره چې د هیواد پلازمیني کابل، جنوبي او شرقي برخي له شمال سره نښلوي د اسلامي دولت په واك کي ده او د سیمې بادرده مجاهدین او نور نیکان یې په کلکه ساتنه کوي:

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك او دولت د مقدسو هدفونو او اسلامي شریعت د نفاذ مینه او ولوله اوس د شمال د مجاهد او مسلمان ولس په زړونوکي لا زیاتي ځبي وهي او دغه مینه په منهو منهو د شمال شرقي او غربي سیمو ته خوړیږي او د مسلمانانو قوتونو لازیات ملاتړ ځان ته را کاږي نور نو د کمونیزم د پاتي شونو، د شر او فساد ډلو، ایراني او روسي مزدورانو لپاره د خلکو په منځ کي ځاي نشته، په دوي او د دوي په ساتندویه شریرو ګاونډیانو باندي زمکه سره تنې شوي ده اخوا ، دي خوا تر پکي وهي او اپلتي وایي اوس چې د طالبانو د اسلامي تحریك د پاکو مجاهدینو د برکت پل د شمال په مجاهده خاوره کیښودل شوي دي نور په پلیت بدماشان هلته توخته ونکړاي شي (انشاء الله تعالي) او په ټول هیواد کي به امن، سوکالي او اسلامي شریعت نافذ شي که د الله تعالي) خوښه وه :

اوس په مزار شریف کي یوازي همایون فوزي خبري کوي د عبدالمالك او ګل محمد پهلوان غږ ورك دي، نه ده معلومه چې په اوس وخت کي د عبدالمالك موقف- که ژوندي او ازاد وي- څه دي؟ په سرکي خوبي په وار وار داسي اعلان کاوه چې :« ... دوستم د سولي په مخ کي خنډ ؤ، خلك له جګړي نه ستومانه دي ، موږ له طالبانو سره یو شوي یو تر څو په هیواد کي سوله ، اسلامي شریعت د زمکي تمامیت او امن راشي...» په هغه وخت کي همایون فوزي هم دغسې خبره کوله، د طالبانو د اسلامي تحریك قوتونو د هغه تعهد په بنسټ چې عبدالمالك ورسره کړي ؤ په ګډه عملیات ورسره پیل او په لنډ وخت کي یې سیمې تصفیه کړي، دوستم وتښتیده او د شنبي په ورځ د جوزا په ۳ مه ورځ مزار شریف ته بریالي ننوتل، سبانه چې له معمول سره سم اسلامي دولت هلته ځني شرعي قوانین اعلان کړل د ورځي په اخیر کي حالات بدل او ټولو بې فرهنګه ډیریکیانو د اسلامي دولت په طالبانو او مجاهدینو برغل پیل کړ:

تر کومه ځایه چې معلومه شوي ده ایران او د هغه لاس پوڅو د ازبکستان او روس د تالي څټونکو په ګډون په دغه شیطاني توطیه کي سخت شیطاني رول ولوباوه. له ګډودي نه وروسته همایون فوزي وویل چې : (... طالبانو له موږ سره پروتوکول لاس لیك کړي ؤ په هغه ونه دریدل نو ځکه موږ داسي وکړ ل..) په سرکي یې د پروتوکول هیڅ یادونه نه وه کړې: د طالبانو د اسلامي تحریك تګ لاره تر لمر روښانه ده چې هر څوك ورسره یو ځاي شوي دي یا یو ځاي کیږي ایکي یو امتیاز ورکوي هغه دا چې څوك په پاك نیت له دغه پاك تحریك سره په اخلاص ودریږي . تحریك د خپل ځان ویولي او خپل ځان د تحریك ویولي هغه به له عام او تام اعتماد او صلاحیت نه برخمن وي، له دي نه آخوا یې هیڅانه هیڅ امتیاز نه دي منلي او نه یې اوس مني، نه پوهیږو چې همایون فوزي څنګه فرضي پروتوکول اختراع کړ؟

همایون فوزي له هغه نه بیا وروسته وویل چې : «... طالبان دي له موږ سره خبروته کیني که نه نو بیا به یې د اسیرانو سرنوشت له خطر سره مخامخ شي ...» موږ وایو چې خبري خو هغه وي چې د عبدالمالك په خوله دي پریکړه او تعهد راسره وکړ چې : «... موږ له طالبانو سره یو ځاي شوو تر څو سوله او امنیت راشي او اسلامي شریعت نافذ شي ...» که اوس نوري خبري وي نو هغه به نور وخت غواړي او د دوستم په ځاي به نه د سولي، امنیت او اسلامي شریعت مخې ته خنډ شي، خبري هم په داسي شرایطو کي چې - دده په خبره - د اسیرانو د ژوند تهدید به هم پکښې مطرح وي :

همایون فوزي بیا تیره شپه بله خبره وکړه چې : « ... د طالبانو لس زره اسیران له موږ سره دي او د میلمنو په شان یې ساتو نه د اسیرانو په څیر، موږ غواړو د نجات یوه ملي جبهه جوړه کړو، په دي خبره فلاني او فلاني ... هم توافق راسره کړي دي طالبان دي هم توافق راسره وکړي ... » :

موږ وایو که دغه وړي شړي شي نو دا به عین هغه شوراي دفاع او د سولي په مخ کي لکه دوستم داسي خنډ وي مګر په دومره توپیر سره چې دوستم به پکښي نه وي او نوم به یې بدل وي، بیا به هم د اسیرانو د ژوند تهدید په کي مطرح وي؛په دغه ترخ کي ګلبدین هم د ایران د نظر بندي له زندان نه یوخوخبري او یوه طرحه راوشړله، دده یوه طرح د افغانستان مسئلي د حل لپاره هغه هم وه چې کابل یې په توغوندیو ویشت کندواله یې کړ او په لس ګونو زره هیواد وال یې په شهادت ورسول؛د طالبانو اسلامي تحریك او د افغانستان او نړي مسلمانان له پیل نه په پوره باور دغي نتیجې ته رسیدلي دي چې د افغانستان مسئله په ایتلافونو نه حل کیږي، که حل کیداي نو هغه د پیښو لومړني ایتلاف به کافي شافي و نورو ایتلافونو ته به ضرورت نه و یوازني لاره یې دا ده چې د طالبانو اسلامي تحریك او دولت یې د خپلو مسلمانانو هیواد والو په غوخ ملاتړ سره په مخ بیایي که څوك په رښتیا سره د اسلام او هیواد له غمه مړه وي نو دغه لاره ده او هغه څوك چې ځانونه او د پردو ګټي ورسره مطرح وي هغه به ایتلافونه یادوي،

د افغانستان اسلامي دولت دا پتیلي ده چې د الله تعالي د رضا او د خپلو هیوادوالو د امن او سوکالي لپاره به دغه الخزنه او ترخه لاره تعقیبوي تر څو الله تعالي د دوي او د ملت د دښمنانو تر منځ خپله د عدل پریکړه وکړي، حسبنا الله و نعم الوکیل .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar